
د بلا سیوری
( لنډي کيسي )
ليکواله: نسيمه باري
د بلا سیوری
ليکواله: نسيمه باري
The Mo
A collect
By
ره، پلاستيکي
ښکو گامونو د
وربانديي برابره
و او د ښتګرانو
چي د سړي به
ه جگه او توره
گناه انسان د
لنه- کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بلا سیوری

(لنډې کیسې)

لیکواله: نسیمه باري

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب ځانګړنې:

- **د کتاب نوم:** د بلا سیوری
- **لیکواله:** نسیمه باري
- **د لیکوالې ایمیل پته:** nasima.helmand@gmail.com
- **کمپوز:** نسیمه باري
- **پروف کتل:** خلیل احمد ثارن
- **د کتاب ډیزاین او ترتیب:** رضا پارسا
- **د پښتۍ ډیزاین:** غفار کاکړ
- **د چاپ کال:** ۱۳۹۶ه ش
- **خپرندوی:** میوند خپرندویه ټولنه – کندهار


**د کتاب د چاپ او خپرولو حقوق له لیکوالې او خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډالۍ:**

دا کتاب هغه چاته ډالۍ کوم چي ماته يې د ښه نيت او مهربانۍ له مخي ادبي الف و با راښوولې، بيا يې لاسنيولي ادبي ډګر ته راوستلې او په دې ډګر کي يې په عملي ډول کيسې ليکل راښوولي دي.

دا استاد که څه هم د زړه له کومي راباندي ګران دی او د تل لپاره به يې ځان د احسان پوروړې بولمه، خو په پښتني ټولنه کي د خپلو استادانو درناوی کول هم د ځينو خلکو له نظره لکه خوب ښه او بد دواړه تعبيرونه درلودای سي، نو له دې امله د خپل دې مهربان او درانه استاد نوم نه سم يادولای.

(نسيمه باري)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


۱: د لیکوالي یاداښت ........................................ ۷
۲: د اوښکو امېل ........................................ ۱۷
۳: تور زړه ........................................ ۲۳
۴: د بلا سیوری ........................................ ۲۷
۵: د پېریانو کلا ........................................ ۳۳
٦: د پردیو په انګړ کي اختر نسته ........................................ ٤۱
۷: دا لاسنیوی به دي تر مرګه یادومه ........................................ ٤۷
۸: قوماندانه توړی ........................................ ۵۵
۹: قاتله هم زه او مقتوله هم زه ........................................ ٦۳
۱۰: زندۍ سوي هیلي ........................................ ۷۱
۱۱: تور لاسونه ........................................ ۷۵
۱۲: د پردې ترشا ........................................ ۸۵
۱۳: د پیسو نشه ........................................ ۸۹
۱۴: د رڼاګانو غلا ........................................ ۹۵
۱۵: میراث مړی ........................................ ۱۰۱
۱٦: د پوړني درناوی ........................................ ۱۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دې کتاب لیکل هم یوه کیسه لري

## د لیکوالي یادابنت:

زه ډېره کوچنۍ ومه چي له نکلونو سره مي جوړه وه، په تېره بیا د پېریانو، د ښوانو او حیوانانو نکلونه مي ډېر خوښېدل. مور به مي تل نکلونه راته کول، ما هغه وخت داسي فکر کاوه چي ټول نکلونه رښتیا دي، خو کله چي په ښو او بدو پوه سومه، نو ټول نکلونه مي رښتیا نه بلل او خوند یې نه راکاوه، بیا مي د لنډو کیسو لوستلو ته مخه کړه. څرنگه چي ما په پاکستان کي په اردو ژبه تعلیم کړی و، نو دا ژبه راته اسانه وه. که چا به په اردو ژبه کي د یوه کیسه لیکوال صفت وکړ، نو ما به یې خامخا کتابونه پیدا کول.

کله چي بیر ته افغانستان ته راغلم، نو د اردو پر ځای مي د پښتو لنډو کیسو لوستل پیل کړل، پر دې سربېره به مي د راډیوگانو او ټلویزیونونو ادبي خپروني هم تعقیبولې.

په دې ادبي پروگرامونو کي به لنډې کیسې، ناولونه او شعرونه خپر ېدل. دغه ډول به یې له شاعرانو او لیکوالانو سره هم پر بېلابېلو ادبي او هنري موضوعاتو مرکې خپرولې.

څه موده وروسته په هلمند ولایت کي بُست راډیو د مقالو لیکلو یوه سیالي اعلان کړه چي ما هم خپله یوه مقاله ورواستوله.

دا یوه تحقیقاتي مقاله وه چي ( په اسلام او عصري ژوند کي د سولي ارزښت) نومېده. که څه هم دا زما لومړۍ مقاله وه، خو بیا هم له نېکه مرغه دوهم مقام یې وگاټه او ما ته یې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



گلکسي موبایل په جایزه کي راکړ.
زه په دې جایزه ډېره خوشاله سوم، کله چي مي مور ته کیسه وکړه، نو هغه هم ډېره خوشاله سوه، آن دا چي له ډېري خوشالیه یې په سترګو کي اوښکي وځلېدې. دا جایزه په ادبي دګر کي زما لومړی لاسته راوړنه وه.
تر دې وروسته ما پر ځان باور پیدا کړ او فکر مي وکړ چي دا دی ښه مقاله خو مي ولیکله، خو که ډېر زیار وباسم کېدای سي چي کتاب هم ولیکلای سم. څرنګه چي له پخوا څخه مي له ادبي لیکنو په تېره بیا کیسو سره ډېره جوړه وه، نو نوري تحقیقاتي مقالې مي و نه لیکلې، بلکي دا مي لازمه وګڼله چي د لیکلو پر ځای مطالعې ته دوام ورکړم، هغه و چي په بېلابېلو پښتو ویب سایټونو، مجلو او اخبارونو کي مي د کیسو مطالعه کولو ته ملا وتړله.
یوه ورځ له کابل څخه یوه مشر لیکوال زنګ راوواهه. ویل په کابل کي د یوې نادولتي اداري له خوا د کیسه لیکني په اړه پنځه ورځنی ورکشاپ جوړ یږي چي یوازي د خویندو لپاره دی. یو چا ستاسي نمبر راکړ، ویل دا هم لیکواله ده، نو که تاسي غواړئ چي په دې ورکشاپ کي برخه واخلئ، خپل ژوندلیک او یوه لنډه کیسه مو د بېلګې په توګه راواستوئ. ما هم دغسي وکړه، خپل ژوندلیک او یوه کیسه مي ورواستوله.
نه پوهېږم چي کیسه به ښه وه کنه نه، خو دوی ما ته وویل چي ډېره ښه کیسه دي لیکلې ده. ته کولای سې چي په دې ورکشاپ کي برخه واخلې. کله چي د ورکشاپ وخت رانژدې سو، نو ماته یو ضروري کار پیدا سو، و مي نه سوای کولای چي د ورکشاپ لپاره کابل ته ولاړه سم. استاد ته مي په ټیلیفون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي وويل چي د يوه داسي طلايي چانس باييللو له امله ډېره خواشينې يم، ځکه له ډېره وخته مي دا ارمان درلود چي يو څوک د کيسو ليکلو په برخه کي مرسته راسره وکړي.
استاد راته وويل چي تر اوسه دي څومره کيسې ليکلي او په دې برخه کي څومره تجربه لرې؟ ما ورته وويل چي زه له کيسو لوستلو سره ډېره مينه لرم، ډېري کيسې مي مطالعه کړي دي، خو دا مي لومړۍ کيسه ده چي خپله يې ليکم.
استاد په دې خبره ډېر خوشاله سو، ويل زه چي ستا لومړۍ کيسې ته ګورم، نو باور لرم چي ته د کيسو ليکلو استعداد لرې، که کوم کيسه ليکوال مرسته درسره وکړي ډېره ښه کيسه ليکواله به درڅخه جوړه سې، بيا يې ژمنه راسره وکړه چي زه په کيسه ليکلو کي مرسته درسره کوم.
همدا مهربان استاد و چي زما لاسنيوى يې وکړ او زه يې عملا د کيسو ليکلو ډګر ته راوستلم. استاد مشوره راکړه چي تا په اردو ژبه کي تعليم کړى او مطالعه دي هم تر ډېره حده په اردو ژبه کي کړې ده، نو ښه به دا وي چي لومړى له اردو ژبي څخه ځيني کيسې پښتو ته راوژباړې، وروسته کولاى سې چي خپله هم کيسې وليکې. هغه و چي ما هم د استاد له مشورې سره سم يو وار بيا د اردو ژبې کيسو ته مخه کړه.
ډېري کيسې مي ولوستې، خو د ژباړي لپاره مي يوازي هغه کيسې غوره کړې چي د پښتنو له ژوند او چاپېريال سره يې اړخ لګاوه.
لومړۍ کيسه چي ما له اردو ژبې څخه پښتو ته راوژباړله هغه د عمار مسعود کيسه وه چي سرليک يې و: ( شين د ميني رنګ دى). کله چي مي کيسه وژباړله او بيا مي له ځانه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولوستله، نو خندا راغله. حیرانه سوم چې دا خو په اردو ژبه کې ښه کیسه وه، په پښتو کې څه شی ځنې جوړه سوه، زه خپله نه ورباندې پوهېدمه چې څه مې لیکلي دي. کله چې مې استاد ته واستوله، نو هغه راته وویل چې افرین ډېره ښه کیسه دې انتخاب کړې ده، د انتخاب په اړه یې مبارکي راته وویله، خو زیاته یې کړه چې ژبه یې کار غواړي. د کیسې د ژبې په اړه یې په ډېر تفصیل سره په ایمیل کې معلومات راواستول، بیا یې راته وویل چې که وخت لرې، نو زما د لارښوونو په رڼا کې همدا کیسه بیرته له سره وژباړه. ما هم ورسره ومنله ، کیسه مې له سره وژباړله او استاد ته مې واستوله. همدا یوه کیسه مې درې څلور واره وژباړله او استاد ته مې واستوله. ده به هر وار نوې لارښوونې راته کولې، باالاخره استاد راته وویل چې اوس نو کیسه سمه او خپر بېدو ته چمتو ده.**

**کله چې کیسه په یوه ویب سایټ کې خپره سوه او بیا ما هم پر خپله فیسبوک پاڼه خپره کړه، نو خورا ډېرو خلکو وستایله. تر دې وروسته چې به مې هره کیسه د ژباړې لپاره لازمه وګڼله، نو استاد ته به مې یې موضوع او لنډیز وایه. استاد به لومړی نه راته ویل چې دا کیسه مه ژباړه، خو کله چې به ما وژباړله او ده ته به مې ورواستوله، نو بیا به یې راته ویل چې دا کیسه په ژباړه نه ارزي او دلایل به یې هم راته وویل. ما به ورته وویل چې استاده لومړی به دې راته ویلي وای چې دا کیسه په ژباړه نه ارزي، ده به په خندا راغبرګه کړه: زما هدف ستا شهرت نه، بلکې په کیسه لیکنه کې ستا روزل دي او د روزلو لپاره تمرین ډېر ضروري دی. خیر دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا کیسه د خپر بډو وړ نه ده، خو د دې کیسې ژباړې دا ګټه درته وکړه چې یو خو دې د یوې کمزورې کیسې خصوصیات وپېژندل او بل دې تمرین وکړ.
په همدې ډول مې لسګونه کیسې وژباړلې. هره کیسه مې څو څو واره وژباړله. که څه هم زما ژباړل سوې کیسه به د ژبې له پلوه د خپر بډو وړ نه وې، خو استاد به ډېر زیار ورسره ګاله. ما ته به یې مشوره راکوله چې د دې کیسې نوم او یا یې د کرکټر نوم وربدل کړه، هدف یې دا و چې کیسه زموږ په ټولنه کې واقعي او طبیعي معلومه سي. په دې ډول ځیني کیسې د پښتني ټولني له دود او چاپېريال سره داسې وسکښتل سوې چې تا به ویل پښتانه لیکوال لیکلي دي.
کله چې مې یو کال د ژباړې تمرین وکړ او استاد پوه سو چې زه اوس له کیسو سره اشنا سوې یمه، نو راته ویې ویل چې اوس نو خپله یوه ماته او ګوډه کیسه ولیکه. هغه و چې ما هم د ژباړې پر ځای خپله کیسه لیکنه پیل کړه. اکثره به مې هغه کیسې لیکلې چې زما د ژوند خاطرې به وې او یا به مې له مور او پلار او دوستانو څخه اورېدلي وې. تر ژباړه د خپلو کیسو لیکل ډېر ګران کار و. داسې وخت هم راغلی چې یوه کیسه زما او استاد تر منځ د ایمیل له لارې لس واره هم تبادله سوې ده.
کله چې استاد پوه سو چې زه اوس له لنډې کیسې سره ناڅه اشنا سوې یمه، نو د لنډې کیسې د تیورۍ په اړه یې ځیني کتابونه راولېږل. ما هغه کتابونه که څه هم په ځیر سره ولوستل، خو تر اوسه پورې هم د لنډې کیسې له تیورۍ سره بلده نه یمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه فکر کوم چې ادب او ادبپوهنه بېخي جلا کارونه دي. زما غوندي خلک چې ليکوالي يې نوې پيل کړې وي دواړه کارونه نه سي کولای. ادبپوهنه د استادانو او تکړه ليکوالو کار دی. داسي لږ خلک به وي چې هم اديبان او هم ادبپوهان وي. که يو څوک په ادب او ادبپوهنه دواړو کې لاس ولري، نو بيا به يې هم يوه پله سپکه وي، خو زه په ډاګه وايم چې زه د لنډې کيسې په تيوری نه پوهېږم، اصلا باور نه لرم چې يوه لنډه کيسه دي په سلو کې سل پر تيوری برابره وليکل سي. ما هغه وخت خپل استاد ته هم وويل چې زه د لنډې کيسې په تيوری پوه نه سوم، خو بيا مي هم د تيوری په برخه کې ځيني خبري زده کړې.**

**زه اوس فکر کوم چې له لنډې کيسې سره څه ناڅه اشنا سوې يمه، دا توان لرم چې د خپلې ټولنې غوښتنې او حساسيتونه په پام کې ونيسم، د کيسې لپاره يوه مناسبه موضوع غوره کړم او بيا کيسه وليکم. زه هيله لرم چې يوه ورځ به زه په يوازې ځان داسي کيسې وليکم چې زما استاد به ګردسره خبر نه وي او زما کيسې به خوښي کړي، خو د کيسې د ژبې په برخه کې به بيا هم د استاد مرستې ته اړتيا ولرم. که زه په کيسه ليکلو کې هر څومره پرمختګ وکړم، نو دا به د استاد د پېرزوينو او عالمانه لارښوونو برکت وي.**

**ما ته د کيسو ژباړلو او ليکلو په بهير کې دوه اړخونه ډېر ستونزمن ول. يو د موضوع غوره کول او بل هم د کيسې ژبه. ځيني موضوعات ډېر شاربل سوي او سولېدلي ول. يوازې په پښتو ژبه کې نه، بلکې په ټولو ژبو کې ډېرې کيسې ورباندې ليکل سوي او آن دا چې فيلمونه ورباندې جوړ سوي ول. زما**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اند داسې موضوعات نور په دې نه ارزي چې سړی دې یې بیا راپورته کړي. ځیني نور موضوعات بیا داسې دي چې ډېر ضروري دي، خو خلک حساسیت ورسره لري. ما هم په ژباړه کې او هم په خپلو لیکل سویو کیسو کې دا ډول موضوعات را اخیستي دي. پر دې ډول موضوعاتو کیسې لیکل ډېر ضروري کار دی. زما په اند دا موضوعات زموږ د ټولني ناروغیو ته ورته دي. که موږ یې له ډاکټر څخه پټ کړو او په ویلو یې وشرمېږو، نو علاج یې هم نه سي کېدای. که غواړو چې په ټولنه کې ځیني ناوړه دودونه له منځه یوسو، نو باید لومړی یې خلکو ته ناوړه پایلي وروښیو او ویې غندو، په دې ډول به د ټولني پام ورواوړي او کرکه به ځني وکړي. زما په اند د ناوړو کارونو په اړه په خلکو کې کرکه خپرول د کیسې له مهمو هدفونو څخه ګڼل کېږي. زه دا منم چې دا ډول موضوعات مطرح کول د عامو خلکو حساسیتونه راپاروي، خو په دې حساسیتونو کې دیني، اجتماعي او ادبي منطق نسته. د علم پر وړاندي د جهالت هره جبهه چې منطق و نه لري، تر ډېره وخته پوري مقاومت نه سي کولای. یو وخت تقریبا ټول بشریت باور درلود چې ځمکه د غوایي پر ښکر ولاړه ده، خو نن خلک هغسې باور نه لري، ځکه چې د دې خبري لپاره علمي منطق نه لري. د دې ډول حساسیتونو یو لامل دا دی چې زموږ د لوستونکو ادبي سویه ټیټه ده او بل دا چې دا موضوعات نوي دي. له نویو موضوعاتو سره په ټوله نړۍ کې په لومړي سر کې خلک حساسیت ښیي، خو وروسته سوکه سوکه ورسره اشنا کېږي.

که څه هم دا ډول موضوعات راپورته کول به لومړی د ناخبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

او غیر مسلکي خلکو حساسیتونه راوپاروي او ځیني ناخبره خلک به یې بد تعبیر کړي، خو زه باور لرم چې وروسته به موږ په دې برخه کې ډېر پلویان ولرو او خلک به دا ډول موضوعات ډېر خوښ کړي. موږ په خپل فرهنګ کې ځیني موضوعات غیرت بولو، خو هغه په حقیقت بشري جنایتونه دي او بشري جنایتونه د غیرت په نوم منل او یا د هغه په اړه پټه خوله پاته کېدل پر دې دلالت کوي چې لیکوال خپل اصلي رسالت نه دی پېژندلی.
د لنډې کیسې دوهمه ګرانه او ستونزمنه برخه ژبه ده. که څه هم موږ له عامو خلکو څخه د هغوی په ژبه کیسه اورو، خو په ورته ژبه کیسه لیکل او یا کټ مټ د عامو خلکو کیسې لیکل د کیسې هنري ارزښت کموي. همدا ژبه ده چې یوه کیسه له ادبي کورنۍ څخه باسي او بله کیسه یې له ادبي کورنۍ سره تړي. زه په دې برخه کې اوس هم خورا ډېرې ستونزې لرم، خو هڅه کوم چې ډېرې کیسې مطالعه کړم، خپله کیسې ولیکم او د خپلو کیسو په اړه د لیکوالو او کره کتونکو نظرونه واورم.
ما تر دې مهاله د لنډو کیسو دوې مجموعې چمتو کړې چې یوه یې ستاسې په لاس کې او بله به هم انشاالله ډېر ژر چاپ سي. که څه هم ما له اردو څخه د ژباړل سویو کیسو مجموعه مخکې لا چمتو کړې، خو دا مې لازمه وګڼله چې لومړی خپلې لیکل سوې کیسې چاپ او په اړه یې د لوستونکو او کره کتونکو نظرونه واورم.
زه په پای کې له ټولو هغو دوستانو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې زه یې دې کار ته هڅولې یم، د کتاب متن یې ایډیټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی، پروف یې کتلي، پښتۍ یې ډیزاین کړې او دا کتاب یې
چاپ کړی دی. خدای (ج) دې وکړي چې زما کیسې هم
ستاسې هنري تنده ماته کړي او هم مې د پښتو ژبې
حق تر یوه حده پوري ادا کړی وي.

په درنښت
نسیمه باري
۵ / وری / ۱۳۹۶ه ش
کارته لګن، لښکرګاه، هلمند

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوښکو امېل

د ملالۍ مېړه جانباز نومېده او درې کاله کېده چې له دې سره يې واده کړی و. جانباز په دوبی کې کار کاوه. په کال کې به يو وار کور ته راغی او يوه اوونۍ وروسته به بيرته ولاړ، خو ملالۍ د جانباز له مسافرۍ او بېلتون سره عادت سوې او خوشاله ښکار بده، نه يې گيله کوله او نه يې په تندي کې د خفگان نښې نښانې ليدل کېدې، په همدې صبر يې د خسرخېلو خواخوږي هم خپله کړې وه، په تېره بيا پر خسر ډېره گرانه وه، خو درې کاله وروسته يې ژوند بدلون وموند او د بخت کاسه يې نسکوره سوه، خوابښې يې ورته بلا سوه او ورځ په ورځ يې کرکه ځنې کوله. هره ورځ به يې پېغورونه ورکول، ويل وچه لښته يې، شاړه مځکه يې، نرهډې يې ... د واده دې درې کاله کېږي، خو د کوچنې درک دې نسته.
ملالۍ چې به دا پېغورونه واورېدل، نو خپلې خونې ته به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



منډه کړه، هلته به یې له ځان سره وژړل، نه پوهېده چې څه وکړي او چېري پناه یوسي، بس همدا اوښکي وې چې د هغې زړه به یې لږ تش کړ او لږ سکون به یې پیدا کړ. اخیر ژړا د دې یو عادت وګرځېده، وروسته یې همدې غمونو خوبونو ته هم لاره وکړه، په خوب کې به یې هم ژړله، اخیر یې خوب او ویښه سره ګډ سول، نه پوهېده چې خوب ویني او که ویښه ده. کله چې به له خوبه راویښه سوه، نو بالښت به یې په اوښکو لوند خیشت سوی و. اوس اوښکي د هغې له غاړي او ګرېوان سره تړلي وې، لکه د اوښکو امېل چې یې په غاړه کې وي.

یوه ورځ یې د کور غولی جارو کاوه چې دروازه په زوره وټکېده. د ملالۍ زړه په دربا سو، ویل خدایه فضل وکړې، د ملالۍ خسر دروازې ته ورغی، له یو چا سره یې لنډې خبري وکړې او بیرته کور ته راوګرځېد. ملالۍ چې ورته وکتل، نو د خسر د مخ بڼه یې الوتې او سترګې یې له اوښکو ډکي وې. ملالۍ ورمخکي سوه، ویل باباجانه خیریت دی؟ خسر یې ځان ټینګ نه کړای سوای، په چیغو یې پیل وکړ، ویل لوري ملا مي ماته سوه، جانباز زوی مي وخوړ، جانباز خو ځوانیمرګ سو، وایي چې په دوبی کې یې موټر ټکر کړی دی. له دې خبري سره سم د ملالۍ خواښې، لېورونه او د کور نور غړي له خونو راووتل، په یوه شېبه کې کور چیغو او ژړاوو پر سر واخیست.

درې ورځې وروسته یې د جانباز مړی کور ته راوړ، کله چې ملالۍ ورنژدې سوه، نو خواښې یې سترګې پر رابره ګې کړې، ویل توري پیشي، سوې پلي، سیاه بختي، بدمرغي ! لیري سه چې زما زوی ته لاس ور نه وړې، زه له لومړۍ ورځې لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدم چې ته بدمرغه او توره پیشي به زما د ګل غوندي نازک زوی وخټېږي. د جنازې او فاتحې په مراسمو کې ملالۍ چا و نه لیده، بس په خپله خونه کې یې له ځان سره ژړله. تر دې وروسته ورځ په ورځ کور ور ته سره تبۍ کېده، یو وار یې وغوښته چې د پلار کره ولاړه سي، خو زړه یې نه سوای کولای او بیر ته پاته سوه.

څو میاشتې وروسته یوه ورځ ملالۍ په خپله خونه کې په زوره زوره ژړله، خواښې چې یې ورغله، نو ګوري چې ملالۍ د جانباز عکس ته ګوري او ور ته ژاړي، خواښې چې یې د جانباز عکس ولید، نو ملالۍ یې تر کوڅۍ ونیوله، ویل توري پیشي، بدمرغي، سوی پلي، زما د ګل غوندي نازک زوی دې وخوړ اوس بیا ژاړې هم؟ دا عکس ستا وړ نه دی، راکه عکس.

عکس یې ځني واخیست، له خوني ووته او په درب یې د خوني دروازه په ځان پسې وتړله. تر دې وروسته به ملالۍ له خپلي خوني نه وتله، یوازې به هغه وخت وتله چې خواښې به یې د چوپړ ور ته وویل.

یوه ورځ د ملالۍ کوچني لېوره جبار کور ته وریجې او غوښې راوړې. خواښې یې ملالۍ ته په لوړ اواز وویل: ورسه دا شیان پاخه کړه چې ماښام ته مېلمانه لرو. ملالۍ اوس د خواښې د هرې ورځې د ښکنځلو سره عادت سوې وه، نن هم بې له دې چې څه ووایي سمدلاسه پخلنځي ته ولاړه او په خپل کار لګیا سوه.

کله چې ماښام مېلمنو ډوډۍ وخوړه، نو خواښې یې ملالۍ وروغوښته، ملالۍ سخته وارخطا وه، نه پوهېده چې څه خبره ده؟ په کوټه کې څو مشران خلک ناست ول چې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه پوري نه وه لیدلي، سلام یې وواېه او د خسر څنګ ته کښېناسته. خسر یې غاړه تازه کړه او په مهربانه لهجه یې وویل: لوري ستا کونډتون موږ هم ځوروي، بس نو د خدای پېښي دي، زموږ او ستاسي قسمت خدای دغسي لیکلی و. کتاب وایي چي د ځواني ښځې پر کور ناسته ښه نه وي، خدای دي مېړه حق کړی دی، باید اوس نو بل مېړه وکړې، تر څو پوري به همداسي ناسته یې. د ملالۍ زبون وهل سوی و، خبري یې نه سوای کولای، خو یوه سپین ږیري ورته وویل چي لوري وواېه ! دا خو ستا د ژوند خبره ده. ملالۍ په رېږدېدلي اواز وویل: بابا جانه زه بل مېړه نه کوم، بس همدا به مي قسمت و، که تاسي ډوډۍ راکوئ، نو ستاسي سره کښېنم او که تاسي مي نه ساتئ، نو د پلار کره ځم. د خسر تندی یې تریو سو او په جدي ډول یې وویل: هر څوک یو رواج لري، موږ هم دا رواج لرو چي باید کونډه د خسرګنۍ په خوښه واده وکړي، موږ اوس فیصله کړې ده چي ته باید له جبار سره واده وکړې.

د جبار د نوم په اورېدو سره ملالۍ هېښه پاته سوه، په بنده بنده ژبه یې وویل: څه شي ! جبار؟

- هو جبار یادوم، زما زوی

- باباجانه جبار خو د لسو کالو دی او زه؟

- څه پروا لري چي د لسو کالو دی، خدای به یې ځوان کړي.

په دې وخت کي د ملالۍ تر خوله یوه لویه چیغه ووته او له دې سره سم بې سده سوه، یو وخت چي په سد کي راغله، نو ګوري چي په خپله خونه کي یوازي پرته ده. د کور په غولي کي یې د خواښي دا خبره تر غوږ سوه: دا بدمرغه لا تر خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه جاربږي چي د جبار سره واده کوي، توري پيشي ته بايد پر جبار شکر وکاږي، که نه نو تا توره پيشي او سياه بخته څوک څه کوي؟**
**سبا سهار وختي د ملالۍ خسر له دباندي څخه کور ته راغی، ويل ايسته سئ مېلمانه راځي. له دې سره سم د مسجد ملا صاحب او دوه نور سپين ږيري د ملالۍ د خسر خوني ته ننوتل. خسر له خوني راووت او ملالۍ ته يې په تريو تندي وويل: وکيل دي څوک دی؟ ملالۍ په چيغو شروع وکړه، خو خسر يې چيغو ته و نه کتل او بيرته د مېلمنو خوني ته ننووت. يوه شېبه وروسته د مېلمنو له خوني څخه د نکاح خطبه او دوعا واور ېدل سوه.**
**جبار يو بدخويه ماشوم و. په لومړۍ شپه يې له ملالۍ څخه کوڅۍ وشکوله. ملالۍ به له ناچاريه ډېر ناز ورکاوه او د هغه هره خبره به يې منله، خو هغه به بيا هم دا پر کوچنۍ خبره وهله، ملالۍ نه پوهېده چي جبار ولي له دې سره داسي بد چلند کوي؟**
**ملالۍ ورځ په ورځ ډنگر ېدله، اکثره وخت به ورېږي تږي ويده کېده، ويل شی مي خوا ته نه کېږي، وروسته ټوخی ورته پيدا سو، سږو يې چيغه هاری کاوه. يوه ورځ يې خسر ورته وويل چي لوري ناروغه ښکاري، راځه چي ډاکټر ته دي بوزم، خو دې ځان ناگاره واچاوه، ويل نه باباجانه ډاکټر ته ضرورت نسته، زه ښه يم، بس يوازي لږ زکام يم.**
**پر ملالۍ اخير داسي ورځي هم راغلي چي له چوپړ پرته به له خوني نه راوتله. وروسته چي خواښې يې په ناروغۍ خبره سوه د چوپړ يې هم نه ورته ويل، ويل داسي نه وي چي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خسر يې له ناروغۍ څخه خبر سي او ډاکټر ته يې بوزي او يا گاونډيان خبر سي چې دا ناروغه ده.**

**يوه ورځ يې د کور په غولي کې د خواښې اواز واورېد چې خپل زوی ته يې ويل: دا خيرن زړوکی دی اور نه اخلي، هيڅ بلا نه ده وهلې، ډاکټر ماکټر نه غواړي. بله ورځ يې د کور په غولي کې خواښې د خپلې لور سره د دې په اړه خبرې کولې. خبرې د بېرې وې، خو ملالۍ يوازې دا جملې واورېدې: خدای دې يې دا نن مړه کړي، ښه دی چې دا نوغی ورک سي، و بر بېرم چې د بل زوی سر مې و نه خوري.**

**يوه ورځ د ملالۍ خسر جبار ته وويل چې ورسه ملالۍ ډوډۍ ته راوبوله، جبار چې ورغی، نو د خوني دروازه د شا له خوا بنده ده، هر څومره چې يې وټکوله، نو چا نه ور خلاصوله. په دې وخت کې يې خواښې هم راغله، د کړکۍ کړپ سو او د ملالۍ له خوني څخه توره پيشي راووته. خواښې يې تر کړکۍ خوني ته سر وردننه کړ، ويل اوففف دا څنگه بد بوی دی. دا لټه او بې کاره ښځه خپله خونه هم نه سي پاکولای، ته ورته وگوره په پالنگ کې داسې په درانه خوب ويده ده لکه ټوله ورځ چې يې د کور کارونه کړي وي.**

**په دې وخت کې يې بيا ور نارې کړې چې دروازه خلاصه کړه، خو چا جواب ور نه کړ. په دې وخت کې يې خسر هم په ښکنځلو خوله پوري کړه، له درده سور او شين واوښت، دروازه يې په لغته ووهله چې دوې پلې سوه، له دې سره سم ټول په گډه خوني ته ورننوتل، خو نابېره ټول هيښ ودرېدل، گوري چې ملالۍ مخکې لا مړه سوې او پيشي يې پزه ځني خوړلې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تور زړه

کله چې زرغونه لږ پېغلوټې سوه، نو د هغې مشر ورور کمال یې له مکتب سره مخالفت وښود، ویل زموږ په خپلوانو او تربورونو کې تر اوسه پوري چا پېغله نجلۍ مکتب ته نه ده استولې، که موږ دا کار وکړو، نو تربورونه به پېغور راکړي او بله خبره دا ده چې مکتب نجوني بې لاري کوي، موږ ولې په لوی لاس خپله د پلرونو او نیکونو خولۍ پر مځکه وغورځوو، خو د زرغونې پلار یې په خوله کې خبره وروچه کړه، ویل زه تر تا د تربورونو او خلکو په رواج ښه پوهېږم او په غیرت کې هم تر تا پاته نه یم. زرغونه زما لور او ما تربیه کړې ده. که د یوې نجلۍ کورنۍ تربیه سمه وي، نو د مکتب لپاره له کوره وتل هیڅ بد اغېز نه ورباندي کوي.

زرغونه په یوولسم ټولګي کې وه چې ناروغه سوه. ورځ په ورځ کمزروې کېده او رنګ یې تک ژیړ واوښت. اکثره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت به يې د نس له درده شکايت کاوه، خو نس يې مور ته نه ورښکاره کاوه. يو څه وخت يې د نس دردونه وګالل، خو نور يې ځان نه سوای ټينګولای، په بستر کې پرېوته او يوه اوونۍ پرله پسې مکتب ته نه ولاړه. په دې وخت کې يې پلار يوه لیرې ځای ته په سفر تللی و. د زرغونې مور کمال ته د هغې د ناروغۍ وويل، کمال د لغاز او کنايې په ډول وويل: ډاکټر ته څه ضرورت دی، پرېږده چې مکتب خلاص کړي، پوهنتون ووايي او ډاکټره سي، بيا به د ځان علاج خپله وکړي، يوازې د ځان علاج خو څه کوې، د ټول کور او کلي په ښه به ورسي. مور چې يې له کمال څخه ناهيلې سوه، نو خپله يې چادري په سر واغوستله او زرغونه يې يوه نژدې کلينيک ته بوتله.**

**کله چې ډاکټر د زرغونې نس لڅ کړ، نو ګوري چې نس يې غټ سوی دی، داسې ښکاري لکه د دريو يا څلورو مياشتو کوچنی چې لري. له دې سره سم د زرغونې د مور ښه والوته، خولې پر راماتې سوې، نژدې وه چې ضعف ورباندې راسي. ډاکټر ويل د ناروغ د اميدوارۍ څوومه مياشت ده؟ په دې وخت کې د زرغونې مور په ژړا سوه، ويل څه شی؟ لور مې کوچنی لري؟ کوچنی له کومه سو؟ دا خو پېغله ده؟ ډاکټر سر وښوراوه، ويل موري لږ حوصله وکړه، دا دی معاينات او ټلويزيوني عکس ورته ليکم، وروسته به معلومه سي چې څه خبره ده؟ تر دې وروسته زرغونه او مور يې يوه لابراتوار ته ولاړې. لابر اتوار والا ورته وويل چې د نتيجې لپاره سبا سهار راسئ.**

**زرغونه او مور چې يې کور ته راغلې، نو مور يې پر زرغونې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګي راغټې کړې، ویل کمال زوی خو مي ښه ویل چي مکتب نجوني بې لاري کوي، تا خو هغسي زموږ پزه راپرې کړه، هغسي دي د سپین ږیري پلار شمله ورټیټه کړه. تا څنګه داسي کار کاوه ها؟ تا زموږ د کور عزت ته هیڅ پام و نه کړ؟ راته ووایه له کوم هلک څخه امیدواره سوې ها؟ له دې سره سم یې زرغونې ته ورحمله کړه او د سر تر وېښتانو یې ونیوله. زرغونې په منډه قران شریف راواخیست، ویل زما دي د خدای په دغه کلام قسم وي که مي له هیچا سره زنا کړې وي، دومره صبر خو وکړه چي د معایناتو نتیجه معلومه سي، بیا که دي هره سزا راکوله زه یې منم. په دې وخت کي د څنګ په کوټه کي د کمال ټوخی واوربدل سو. د زرغونې مور ژر ژر خپلي اوښکي په پلو پاکي کړې او له کوټې څخه ووته.
د زرغونې مور سهار وختي له خپل لس کلن زوی جمیل سره لابراتوار او بیا ډاکټر ته ولاړه. ډاکټر چي د معایناتو او تلویزیوني عکس راپورونه وکتل، ویل د ناروغ په تخمدان کي تومور پیدا سوی دی.
- څه شی ! تومور؟
- هو تومور
- کوچنی خو به نه لري؟
- نه کوچنی نه لري، بیخي د کوچني خبره نه ده، د تخمدان تومور یوه غټه دانه ده چي کټ مټ داسي معلومېږي لکه ښځه چي کوچنی لري.
- الهی شکر چي عزت مو خوندي سو، ښه نو ډاکټر صاحب د تومور علاج کېدای سي که نه؟
- هو علاج یې کېدای سي، تاسي ناروغ بیر ته ماته راولئ، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دې اړه به وروسته پوره معلومات درکړم.**

**د زرغونې مور په منډه کور ته راغله، په څېره کې يې خوشالي له ورايه ښکار بده، د معايناتو کاغذان يې په لاس کې نيولي او سيده د زرغونې خوني ته ورغله، ويل زرغونې لوري ډاکټر ويل دا تومور دی او علاج يې هم کېدای سي، خو ګوري چې زرغونه په وينو لړلې پرته ده او پر نس يې څو ټپونه معلومېږي. مور يې هغه په غبږ کې راپورته کړه، د زرغونې شاوخوا وينې ډنډ ولاړې وې او دا په تکليف يې سا ايستله. اخلي. د مور يې تر خوله يوه سوې چيغه ووته، ويل لوري مور دې تر تا قربان سي دا څه دروسوه؟ دا کوم ظالم په چړو ووهلې؟ زرغونې په بنده بنده ژبه وويل: کمممم، کمال. په دې وخت کې يې د معايناتو کاغذونو ته مړې سترګې ورواړولې او پر شونډو يې يوه ترخه موسکا ښکاره سوه. همدا يې د ژوند اخيري کتل او موسکا وه، سترګې يې همداسي روڼې پاته سوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بلا سیوری

د شپې تر تور پلو لاندي هیڅ نه ښکارېده، څو میله لیري لویه لاره تېره سوې وه، کله کله به د موټر رڼا تر سترګو سوه، په دې رڼا کې به د خښتو د بټۍ (کُرې) لوړ لوړ دودکښونه لکه توري بلاوي غوندي ښکاره سول چې توري خولې به یې اسمان ته نیولې وې.

توره کې سر له بالښت څخه راپورته کړ، په وارخطایي یې شاوخوا وکتله، سترګې یې سره ومښلې، سوړ اسوېلی یې وکیښ او بیر ته پر ځای اوږد وغځېد. یوه شېبه وروسته بیرته راپورته سو، پر ځای کښېناست، لکه یوه شي ته چې په ځیر سره ګوري، لیري یې په یوه شي کي سترګې وګنډلې، خو نابېره له ځایه ولاړ سو او څنګ ته نژدې بکس یې خلاص کړ، ژر ژر یې خپل څو جوړې کالي یوې کڅوړې ته واچوله. د بکس په کړپ د هغه یو ختګر ملګری راویښ سو، ویل توره کیه څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **بس هسي دا خپله غوټه ټولوم**
- **نو په دا توره شپه کي؟**
- **هو په همدا توره شپه کي مي په کار سوه**
- **څنګه دي په کار سوه؟ خیریت خو به وي؟**
- **هو خیریت دی، کور ته ځم**

**توره کي له دې خبري سره سم بستره په شا کړه، پلاستیکي کڅوړه یې په لاس کي ورسره واخیسته او په چټکو ګامونو د سړک خوا ته روان سو. کله چي به د کوم موټر رڼا ورباندي برابره سوه، نو سیوری به یې د توري بلا غوندي ښکاره سو او د ختګرانو تر ډګر پوري به راورسېد. داسي ډاروونکی سیوری چي د سړي به تراه ځني کېده، لکه رشتیا چي بلا وي، لسګونه متره جګه او توره بلا چي لوی لوی ګامونه اخلي او همدا اوس د یو بې ګناه انسان د وینو څښلو لپاره د هغه خوا ته ور روانه وي. له دې خبري سره سم د توره کي نور ختګر ملګري هم له خوبه راویښ سول، یو له بل څخه یې پوښتني وکړې چي څه پېښه ده؟ توره کی ولي داسي ناڅاپه کور ته ولاړ؟ دی خو درې ورځي مخکي له کور څخه راغی، ویل دا وار درې میاشتي تېروم.**

**توره کی تر دوو شپو مزل وروسته د شپې دوولس بجې خپل کلي ته ورسېد، غوټه یې په مسجد کي پرېښووله او لکه غل د شپې په تیاره کي خپل کور ته ورواوښت. لومړی د اور خوني ته ولاړ، تبشه یې راواخیسته او بیا سوکه د خپلي مېرمني جمیلې خوني ته ورننوت. جمیلې د تیلي څراغ پلیته کښته کړې او خپل زوی (زړګی) یې څنګ ته پروت و. شپږ میاشتنی زړګی د مور پر تي ویده سوی او کوچنی لاس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د مور پر سينه ايښې و. توره کي يو وار د زړگي او بيا د جميلې مخ ته په ځير سره وکتل، دواړه په درانه خوب ويده ول. سوکه يې زړگی له مور څخه ليري کړ او تېښه يې تر سر واړوله، له دې سره سم آخ سو او د جميلې له تندي څخه وينو داره وکړه.

دسهار لمر د خړ غره په لمنه کي د خلکو يوه ډله خلک ځلوله. څوک ځوانان، څوک سپين ږيري او څوک بيا په عمر پاخه خلک ول، خو په دوی کي د ځوانانو زريني خولۍ او لونگۍ له ليري څخه لمر ته ځلېدلې. څو گامه ليري څو ماشومان ناست ول او کله کله به يې تر خپل منځ سره وخندل. يو ځوان د قبر په کيندلو لگياو، کله چي به کولنگ پر ډبره برابرسو، نو کړپ به يې د غره په لمنه کي ازانگه وکړه.

د قبر څو گامه ها خوا د جميلي جنازه پرته وه او زرغونه بنارسۍ وربانديِ اواره وه چي کله کله به باد ورپوله. څنگ ته يې ملاصاحب له څو سپين ږيرو سره ناست و، ملا صاحب به يو وار د قبر خوا ته غوږونه څک کړل او بيا به يې څنگ ته ناست سپين ږيري مخاطب کړل: دا بدمرغه توره کی د شپې ناوخته زما کور ته راغی. ويل خوب مي ليده چي زما په باغ کي يو غټ تور خر گرځي، زړه مي راته وايي چي زما ښځه له بل چا سره جوړه ده. ما ورته وويل چي د خوب مانا ايستل د هر چا کار نه دی، پر يوې مسلماني او بې گناه ښځي تور لگول په خپله يوه لويه گناه ده، ته څه ثبوت لرې چي دا به له بل چا سره جوړه وي ها؟ هسي يو شيطاني خوب دي ليدلی دی، پر داسي خوبونو باور مه کوه. توره کي هغه وخت څه و نه ويل او په پټه خوله د کور خوا ته روان سو، ما فکر وکړ چي زما خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ومنله، خو بس شیطان یې لار ووهله او خپله مېرمن یې په شهادت ورسوله.
د سپین اکا ببري وروځي پور ته سوې او د ملا صاحب په خبرو کي ورولوېد: یاره د شیطان دي کور وران سي، په خلکو یې څه نخرې وکړې. داسي بي بي ښځه یې شهیده کړه چي ټول کلي یې صفت کاوه. بس د صبر او پاک لمنۍ یوه نمونه وه، ټول کور یې په همدې ښځې کور و. توره کی به په میاشتو میاشتو له کوره ورک و، خو دې به د ستني کار کاوه او په هغه پیسو به یې د کور گوزاره کوله، خو توره کی بدمرغه یې په قدر پوه نه سو او تور یې په پوري کړ. کړپ سو د قبر څنگ ته کولنگ پر خاورو ولوېد، یو چا په لوړ اواز ږغ کړه، ویل ملاصاحب راځئ قبر تیار سو. له دې سره سم خلک پر قبر ورغونډ سول، په یوه گړي کي د زرغونې بنارسۍ مېرمن تر خاورو لاندي سوه.
څو شېبې وروسته هدیره له خلکو خالي سوه، یوازي د جمیلې مور د قبر سرته ناسته وه او اسمان ته یې ږډ ږډ کتل. یو ساعت وروسته وریځ راغله، باد او دوړي سوې، نری نری باران هم شروع سو، د جمیلې مور د خپل تور پوړني په پېڅکه پر خپل باړخو رڼه اوښکه پاکه کړه او له ځان سره یې دا متل ووایه: (( چي مړه سي مومنان، یا باد وي یا باران)).
له دې سره سم له قبر څخه ولاړه سوه، سوکه یې د قبر پر خښته لاس تکیه کړ، ویل زما لورکۍ پر خدای مي سپارلې یې، زما خو څه په وسه نه ده پوره، خدای دي د ظالمانو مخ تور کړي.
د غره په لمنه کي د باد اواز شپېلکی کاوه، کله کله به یې لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لېوه انګولل. په هدیره کې باد یوه تشه پلاستیکي کڅوړه یوې او بلې خوا ته ځغلوله، له یوې او بلې ډبرې سره یې جنګوله. له هدیرې څخه څو ګامه لیرې یوه بوډۍ په نیولو ګامونو د کلي خوا ته روانه وه او سوکه سوکه لیرې کېده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پېریانو کلا

د کلي په منځ کې د جانو اکا کور له ورایه ښکارېده، ځکه ځنګ ته یې یوه تاریخي برجوره کلا وه چې اوس کنډواله سوې او خلکو به د پیریانو کلا بلله. د جانو اکا د کور مخ ته یو خالي ډګر هم و چې په بل سر کې یې د زلمي کوچنی دوکان ودان سوی و.

د ژمي موسم و، دباندي سوړ باد چلېده، د جانو اکا مېرمنه زرکه پرله پسې ټوخېدله، د څراغ تېل هم مخ پر تمامېدو وه، په دې وخت کي جانو اکا هم له خوبه راکښېناست او نسوار یې خولې ته واچوله. زرکي خوله په پلو پاکه کړه او په رېږدېدلي اواز یې وویل: د پهلوی پلاره زه او ته زاړه سولو، دا دی زه په سالنډي اخته یم او ته د زړه خوږ لرې، پښه مو د ګور پر غاړه ده، خدای خبر چې څومره وخت به لا ژوندي یو، نجونو ته ډېري مرکې راغلې، خو تا ټولي جواب کړې، که زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



**منې نو نجونې به مېږه ته ورکړو، که خدای د زوی خوشالي نه راولیده، د لونړو د واده خوشالي خو به ووینو.**
**جانو اکا د نسوارو ډکه خوله بوڅه کړه، په اور لړونې یې د نغري اور تازه کړ، تر لویو سپینو برېتو لاندې یې شونډې وښورېدې: ته ودربېږه چې یو سم سړی پیدا سي، تر اوسه خو چې څومره مرکې راغلې، نو یو یې هم د سړي زوی نه دی، ټول چرسیان او بنگیان دي. پرون د منډې پلار هم راته وویل چې دوستي راسره وکړه، ویل تر مور ولاکه ښه خلک پیدا کړې، یو هډ او ماغزه یو، خپل تربورونه دي یو. اوس نو ته فکر وکړه، ته او خدای منډی انسان دی؟ چرسو تش ډول ځنې جوړ کړی دی او بل نو څومره سپین سترگی هلک دی.**
**یوه ورځ یې راته ویل چې کاکا ته خو زوی نه لرې، هسې هم میراث یې، په ژوندوني لا جایداد مور ته راووبښه. په دې وخت کې د جانو اکا تر خوله سوړ اسوېلی وخوت، ویل ښه یې ویلي دي چې تربور د تیارې موړی دی، ته او خدای څوک چاته مخامخ داسې وایي؟ دا خبره به مې مرگی هېروي، که ما زوی درلودای نو ولې به اوس هر گیدړ داړلای. په دې وخت کې د څراغ ژیړې رڼا ته د جانو اکا په سترگو کې اوښکې وځلېدې او زړکه بیا ټوخې شنه کړه.**
**جانو اکا دوې پېغلې لوڼې درلودې چې یوه پهلوۍ او بله چمکلۍ نومېده، خو مور به یې له نازه یوه لویه او بله کوچنۍ ناوکۍ بلله. دا چې پهلوۍ او چمکلۍ ډېرې کمالدارې، پاک لمنې او ښایستې نجونې وې، نو نومونه یې د کلي د ټولو ځوانانو په خولو کې لوبېدلي ول.**
**یوه شپه ناوخته منډی د زلمي دوکان ته ورغی، ځان یې په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پټو کي نغښتی و، لومړی يې شاوخوا وکتل او بيا سوکه دوکان ته ورننووت، په ټيټ اواز يې له زلمي سره روغبړ وکړ، زلمي په حيرانۍ وپوښتل: څه خبره ده، ولي داسي کرار خبري کوې؟**

**- زلميه ته د فيل په غوږ کي ويده يې، کشکي دا دوکان زما وای، بيا به په هر څه خبر وای**

**- ولي څه خبره ده؟**

**- د جانو اکا لوښي انډيوال لري**

**- څه شي ! انډيوال لري؟**

**- هو انډيوال، عجيبه دا ده چي دواړي لوښي يې له يوه نفر سره جوړي دي، دا اوس ما يو سړی وليد چي د جانو اکا له کوره راووت، پر مخ يې پټو اچولی و، و مي نه پېژاند چي څوک و؟**

**په لږ وخت کي دا اوازه په ټول کلي کي خپره سوه. دا خبره که څه هم هر کليوال کوله، خو هيچا له نژدې د جانو اکا د لوښو انډيوال نه و ليدلی او نه هم چا پېژانده.**

**يوه شپه ناوخته قومي مشر حاجي سالار د زلمي دوکان ته ورغی، پر خوله يې لاس ونيو، زلمي ته يې ويل کرار خبري کوه، بيا يې وويل چي غواړم د جانو اکا کور وڅارم چي رشتيا سړی ور ته راځي که نه؟ تر دې وروسته دواړو لکه ښکاريان د جانو اکا د کور دروازې ته په ځير ځير کتل، څو شېبې وروسته يو سړی د جانو اکا له کوره راووت، شاوخوا يې وکتل او په چټکو ګامونو روان سو. حاجي سالار ورپسي منډه کړه، ويل د سپي زويه ودرېږه ! د سړي دوې پښې خپلي وې او دوې يې نوري پور کړې، په ځغاسته يې پيل وکړ، حاجي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سالار د توپنچي دوه ټکه ورپسي وکړه، خو دواړه خطا سوه او سړی په تیاره کي له سترګو پناه سو.**

**په سبا د حاجي سالار سراچه ( حجره) له سپین ږیرو ډکه وه، د چیلم په کورهاري او سپین ږیرو په ټوخي کي خبره چندان نه اور ېدل کېده، خو حاجي سالار ولاړ سو او د جرګې ګډونوال یې داسي مخاطب کړل: وروڼو نن مي د دې لپاره راغوښتي یاست چي زموږ د ټولو د عزت خبره ده. دا اوازه به تاسي ټولو اور ېدلې وي چي د جانو اکا کور ته سړی راځي. ما مخکي دا خبره نه منله، ما ویل هسي اوازه به وي، خو تېره شپه مي په خپلو سترګو ولیدل چي یو سړی د جانو اکا له کوره راووت. په دې کار سره موږ ټولو ته ژیړه راواوښته، ټول کلی بې عزته سو، باید د پښتونولۍ له رواج سره سم د جانو اکا لوڼې د بدلمنۍ په جرم ووژل سي.**

**په دې وخت کي ملا صاحب غاړه تازه کړه، ویل په دې اړه هیڅ ثبوت نسته، په تیاره کي یو سړی له کوره راوتلی او معلوم نه دی چي څوک و او څه یې کوله او بل که دا خبره ثابته هم سي، نو نجوني پېغلي دي، په شریعت کي یې مرګ نه دی روا، له شریعت سره سم په دُرو وهل کېږي. حاجي سالار یې په خوله کي ورولوېد: ملاصاحب ستا خبره سمه ده چي په شریعت کي یې مرګ نه دی روا، خو زموږ په رواج کي یې مرګ روا دی، موږ دا بې غیرتي نه سو منلای.**

**- خان صاحب زه نه پوهېږم چي په شریعت کي د یو چا مرګ نه وي روا ته یې څنګه وژنې؟ دا خو بې ګناه قتل دی**

**- ملا صاحب داسي ډېر کارونه سته چي په شریعت کي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**روا دي، خو په رواج کي بد بلل کېږي، ته خپله هم تر داسي رواجونو نه سې تېر بدلای**

**- لکه څنگه رواج؟**

**- لکه باد پرېکېدل چي په شریعت کي ناروا کار دی، خو ټول خلک یې شرم گڼي، موږ هم دا کار شرم گڼو، باید خامخا نجوني ووژل سي.**

**له دې خبري سره سم په حجره کي شور او زوږ پورته سو: هو باید خامخا نجوني ووژل سي، دومره بې غیرته نه یو چي مړې سترگي به ورته گورو، بس دا د جرگې فیصله ده.**

**جانو اکا کښته کتل او ځمکه یې گروله، لکه ژبه چي یې گونگۍ سوې وي، خبره یې تر خوله نه وتله، خو پر ځان یې زور راوست، ولاړ سو او په رېږدېدلي اواز یې وویل: تاسي تر ما نه اصل یاست اونه غیرتمند، که رشتیا زما لوڼي خدای مه کړه بدلمني وای، نو جرگې ته اړتیا نه وه، ما خپله وژلې، خو زما لوڼي بې گناه دي او زه پوهېږم چي دا کار زما پر ضد یوه نقشه ده. که د دې خبري شا ته شیطانت نه وي، نو هغه هلک څوک دی چي زما له لوڼو سره جوړ دی؟ په تاسي کي یې څوک پېژني؟ ولي بېځایه پر خلکو تورونه لگوئ؟**

**په دې وخت کي د حاجي سالار د صبر کاسه ډکه سوه، له درده سور او شین واوښت، تر خوله یې څگونه باد سول او په لوړ اواز یې وویل: جانو اکا ته خو دومره غیرت نه لرې چي لوڼي دي ووژنې، دا دی زه یې خپله وژنم. له دې سره سم یې څنگ ته پروت کلاشینکوف ورپورته کړ او له حجرې ووت.**

**څو شېبې وروسته د جانو اکا په کور کي ډزي واور بدل سوې،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له ډزو سره سم د حجرې سپین ږیري د جانو اکا کره ورغلل، ګوري چې پهلوۍ او چمکلۍ په وینو لړلي پرتې دي، مور یې ور ته ناسته ده او رډ رډ ور ته ګوري، لکه په ستوني کي چې یې ژړا وچه سوې وي. په دې وخت کي د لکړي کړپ واورېدل سو، جانو اکا سوړ پوړ راواوښت، خلکو نارې کړې چې جانو اکا بې سده سو، په خوله کي اوبه ورتوی کړئ، کله چې یې اوبه ورکړې، نو اوبه یې د خولې تر کونجونو بیر ته راتوی سوې. یوه سپین ږیري یې پر زړه لاس ورکښېښود، ویل زړه یې ولاړ دی، مړ سوی دی.**

**په سبا د کلي په هدیره کي درې نوي قبرونه زیات سوي ول. پر دوو قبرونو زرغونه شالونه اوار ول. منډې د یوه قبر سر ته ودر بد، د سګر ېټې دود یې هوا ته پوف کړ، په خندا یې پر شال لاس تېر کړ او خپل ملګري ته یې وویل: ما ته هم منډې وایي منډی. جانو اکا ډېر ناځوانه سړی و، ماته یې یوه لور نه راکوله، اوس دا دی دواړي لوڼي یې د تورو خاورو خوراک سوې او شکر دی چې دی هم له لوڼو سره یو ځای ورک سو. ملګري یې وویل: نو دا نجوني خو حاجي سالار ووژلې، تا خو نه دي وژلې؟**

**- منم یې چې ما نه دي وژلي، ما له ځانه اوازه واچوله چې دوی انډیوال لري**

**- نو حاجي سالار خو ویل چې ما په خپلو سترګو یو سړی ولید چې د جانو اکا له کوره راووت**

**- هی ساده، هغه سړی هم زه وم. کله چې مي ولیدل چې حاجي سالار د زلمي په دوکان کي ناست دی، نو د کنډوالې له خوا د جانو اکا کور ته ورواوښتم او بیر ته د دروازې له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا راووتم، زه پوهېدم چي حاجي سالار مي په دې توره شپه کي نه نيولای او نه هم پېژندلای سي، خبر نه وم چي توپنچه به ورسره وي، خو د خدای فضل دی تر څو چي ده توپنچه سموله زه کوځې ته ننوتم. منډې پر خپلو تورو او پنډو شونډو ژبه تېره کړه او په فاتحانه انداز يې وويل: خير که پهلوی او چمکلۍ مي له ګوتو ووتلې، د پلار جايداد خو يې لاس ته راغی، له دې سره سم له هديرې څخه روان سو.

د قبرونو سر ته د چرسو دود نڅا کوله، په دود کې داسي کرښي وليکل سوې:

سړيه که زما منې نو نجوني به مېړه ته ورکړو، که خدای د زوی خوشالي نه راوليده، د لونو د واده خوشالي خو به ووينو.

- ته ودرېږه چي يو سم سړی پيدا سي، تر اوسه خو چي څومره مرکې راغلي، نو يو يې هم د سړي زوی نه دی، ټول چرسيان او بنګيان دي.

- ښه يې ويلي چي تربور د تيارې موږی دی

څو شېبې وروسته باد د چرسو دودونه سره ګډوډ کړل، په دود کي ليکل سوي جملې هم لکه د يوې کورنۍ ارمانونه د زمانې باد يووړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پردیو په انګړ کې اختر نسته

حاجي باز محمد یو چاغ شلنډ سپین ږیری و، سور و سپین مخ او اوږده سپینه ږیره یې درلوده. ږیره به یې داسې تار تار خلال کړې ول تا چې ویل د دې کار لپاره یې ځانګړی نایي نیولی دی. بر پتونه یې داسې پاک خریل لکه شکولي چې یې وي، تل به یې د عربو په شان اوږد کمیس اغوست او پایڅې به یې راپورته کړې وې، د پاپ غونډې سپینه نازکه جالۍ داره خولۍ یې پر سر کوله او تل به یې سپین رنګ کالي اغوستل.
حاجي په مکه معظمه کې د عطرو دوکان درلود او ښه کار یې جوړ و. که څه هم دی لس کاله پخوا عربستان ته تللی و، خو کورنۍ یې دوه کاله کېده چې ورغوښتې ول.
دا چې ده په عربستان کې ډېر وخت تېر کړی و، نو ښه عربي یې زده وه، په پښتو کې به یې هم د عربي ځانګړې توري ښه ختبه او په ستوني کې ادا کول. هر چا چې به ولید، نو فکر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کاوه چي ملا او یا قاري دی، خو دی په حقیقت کي شین بې سواده و.**

**د حاجي د دوو ځوانانو زامنو دومره عربي نه وه زده ، بس مازي یې خپلي ورځنۍ ستونزي په حل کولای سوای، خو د هغه د مېرمني درخانۍ او لور ګلالۍ یو ټکی عربي هم نه وه زده. کله چي به بازار ته د سودا رانیولو لپاره او یا ډاکټر ته تلې، نو د ترجمانۍ لپاره به یې حاجي یا د ګاونډیانو یو ماشوم له ځان سره بوت.**

**ګلالۍ لکه نوم چي یې ګلالۍ وه په رشتیا هم ګلالۍ او په ښایست کي یې په خپله سیمه کي ساری نه درلود. هغه وخت چي دوی په افغانستان کي ول، نو په لسګونو مرکې ورته راغلې او ولاړې. ښو ځوانانو او ښو کورنیو مرکي ورته راواستولي. د درخانۍ او زامنو یې ځیني کورنۍ خوښي سوې او ګلالۍ هم راضي وه، خو کله چي به یې له حاجي سره مشوره وکړه، نو هغه به ویل چي اوس لا وختي دی، کله چي تاسي په خیر عربستان ته راغلاست بیا به یې هغه وخت ګورو.**

**یوه ورځ د حاجي دوی کره د یوه عرب شیخ سپین سرې مور راغله. کله چي یې ګلالۍ ولیده، نو سترګي یې پکښي پاته سوې، دومره یې خوښه سوه چي ګرسره یې سترګي نه ځني اړولې. که څه هم لومړی د مرکې په نیت نه وه راغلې، خو کله چي یې ګلالۍ ولیده، نو شله سوه، ویل دا نجلۍ به خامخا زما زوی (شیخ عدنان) ته راکوئ.**

**شیخ عدنان د تېلو یو لوی شرکت درلود او د سعودي عربستان له ډېرو شتمنو خلکو څخه ګڼل کېده. درخانۍ د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شیخ مور ته وویل چي موږ به مشوره سره وکړو او بیا به تاسي ته خبر درکړو.**

**د شیخ عدنان په اړه لومړی درخانۍ خپل نظر ووایه. ویل زموږ او د عربو رواجونه سره جلا دي، نور خو يې څه کوې تر اوسه پوري په ژبه لا نه سره پوهېږو، داسي نه وي خدای مه کړه چي هسي په یو بلا اخته سو. دلته هم افغانان ډېر دي، له هغوی سره به دوستي وکړو. د ګلالۍ د ورونو هم نه وه خوښه چي خپله خور یوه پردي عرب ته ورکړي، ویل په پردیو عربو باور نسته، که دلته په افغانانو کي زموږ د خوښي ځوان پیدا نه سو، په افغانستان کي به يې ورکړو، هلته خلک زارۍ راته کوي، خو حاجي د ټولي کورنۍ خلاف نظر درلود، ویل ګلالۍ نجلۍ ده، ژبه ژر زده کولای سي، څه وخت وروسته به د عربو له ټول دود او دستور سره اشنا سي، عرب د پیغمبر (ع) قوم دی، تر دوی اصل خلک په ټوله نړۍ کي نسته. شیخ عدنان شتمن سړی دی، په سرو زرو کي به يې له سره تر نوکه پوري پټه کړي او ارام ژوند به ولري. موږ اوس د یو عرب په کفالت او نماینده ګۍ کاروبار کوو، ځکه چي تر اوسه پوري د دې ځای اقامه ( تابعیت) نه لرو، خو که موږ له شیخ سره خپلوي وکړو، نو هغه به موږ ټولو ته د عربستان تابعیت راواخلي او کاروبار به مو تر دې هم ښه سي. لنډه دا چي حاجي پر خپله خبره ټینګ ودرېد او بې له دې چي له ګلالۍ څخه پوښتنه وکړي هغه يې شیخ عدنان ته ورکړه.**

**درې ورځي وروسته د شیخ عدنان مور راغله، ویل شیخ وایي چي سبا د کالیو او زرو رانیولو لپاره بازار ته ځو. د واده لپاره مو جلا کور چمتو کړی دی، د کور لوښي، پردې، غالۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



... د هر څه بندوبست سوی دی، بس یوازې ناوې کمه ده.
په سبا د ګلالۍ پلار او درخانۍ د شیخ له یوه موټروان سره بازار ته ولاړل او سودا یې واخیستل. بله ورځ د شیخ مور وویل چې مور دوې ورځې وروسته واده غواړو. درخانۍ که څه هم د واده لپاره چمتووالی نه درلود، خو شیخ ویل زموږ کار سم دی، بل هیڅ ډول پلمه نه ده پاته. اخیر دوی هم مجبور سول د واده همدا نېټه یې ورسره ومنله.
د واده مراسم د ښار په یوه لوی هوټل کې ونیول سول. د شپې یوه بجه شیخ ناوې په خپل موټر کې کور ته بوتله، ویل د ناوې پلارګنۍ دې سبا پسې راسي.
حاجې، درخانۍ او زامن یې کور ته راغلل. درخانۍ په سرو اوښکو ناسته وه ژړل یې، ویل دا خنګه خلک دي، دا څنګه خېښي ده، موږ خو پردي نه یو، لږ تر لږه کور ته خو به یې پرې ایښې وای، لور به مې څنګه وېرېږي، په یوه ټکي عربي نه پوهېږي. یو ساعت وروسته د کور زنګ ووهل سو. د ګلالۍ مور تر حاجې دمخه دروازې ته ورغله، ګوري چې ګلالۍ د شیخ له موټروان سره د کور مخ ته ولاړه او په چیغو چیغو ژاړي. په دې وخت کې ګاونډیان هم راووتل او په دالبز کې شور او زوږ جوړ سو. د شیخ موټروان په تونده لهجه وویل: تاسې څومره بې فرهنګه او وروسته پاته خلک یاست. څوک چا ته داسې خیرنه ناوې په لاس ورکوي؟
(علاوه) کړې مو ولې نه وه؟ درخانۍ ویل دا غم لړلې علاوه یې بیا څه شې ده؟ د ګاونډې یوې نجلۍ وویل چې علاوه یو ډول خټه ده چې په ارایشګاه کې ناوې سر ترنوکه پورې په لړي، یو ساعت وروسته بیر ته خټه ځنې پاکوي او په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول د ناوي د بدن ټول اضافي وېښتان جلا کېږي. درخانۍ په ژړا حاجي ته وويل چې د خدای پار دی، د لور ژوند مي تباه سو، دا څنګه خلک دي، دا څنګه وطن دی، دا خو دومره سخت کار نه دی، اوس به يې علاوه کړو، خو د شيخ موټروان ويل چې اوس نه کېږي، شيخ ته سخت درد ورغلی دی، ويل ګلالۍ پر ما طلاقه ده.

ګلالۍ او کورنۍ يې کورته ننوتل او د کور دروازه يې بنده کړه. حاجي سترګي کښته اچولي وې، لکه د خپلي لور ژوند ته چې يې په خپل لاس اور وراچولی وي. ګلالۍ د مور په غېږ کي سر ايښی و او ساندي يې وهلې او ورونه يې لکه بتان پټه خوله ولاړ ول.

د حاجي په غوږونو کي د درخانۍ دې خبرو ازانګې کولې: ((زموږ او د عربو رواجونه سره جلا دي، نور خو يې څه کوې تر اوسه پوري موږ او دوی په ژبه لا نه سره پوهېږو، داسي نه وي خدای مه کړه چې هسي په يوه بلا اخته سو)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دا لاسنیوی به دي تر مرګه یادومه

خالد او سپوږمۍ په پوهنتون کي سره ټولګیوال ول او ځنګ پر ځنګ به سره کښېناستل. سپوږمۍ چي به کله په ټولګي یا د پوهنتون په چمن کي له خالد سره یوازي سوه، نو ورته ویل به یې چي ستا شنې سترګي مي ډېري خوښېږي، کاشکي ستا سترګي زما وای. خالد به په ټوکو ورته وویل: دا خو اسانه خبره ده، ته ودرېږه همدا اوس یې درکوم. سترګو ته به یې ګوتي ونیولې، ویل ها درواخله زما سترګي یې ستا، خو ګوره بیا به مي تر لاس نیولی ګرځوې او پوهنتون ته به مي هم ته راولې. په دې ډول به دواړو وخندل.
کله چي به سپوږمۍ مازي د خالد خوا ته وکتل، نو ده به په خندا ورته وویل: رډ رډ مه راته ګوره، که دي پر ضد کړم، نو همدا اوس سترګي کاږم او تا ته یې درلګوم، خو خدای خبر چي ته به دومره مهربانه سې چي ما به لاس نیولی تر پوهنتون پوري راولې او بیرته به مي کور ته ورسوې، نجوني کله دومره وفا لري، هسي به دي په سترګو ړوند کړی یم او ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**به پر خپله لاره راځخه تللې يې.**
**يوه ورځ خالد او سپوږمۍ د پوهنتون په چمن کې سره ناست وو، سپوږمۍ بيا د خالد د شنو سترګو يادونه وکړه، خالد سمدلاسه سترګې پټې کړې او سپوږمۍ ته يې لاس ور اوږد کړ، ويل فکر وکړه چې زه ړوند يم، ته مې تر لاس ونيسه، خو سپوږمۍ خپل لاسونه راټول کړل او په ځان پورې يې کلک ونيول. خالد بيا لاس ور اوږد کړ، ويل خير دی يو وار خو دې لاس په لاس کې راکړه، څه اسمان خو نه نړېږي، له دې سره سم يې دا لنډۍ زمزمه کړه:**
**يو وارې لاس په لاس کې راکړه**
**دا لاسنيوی به دې تر مرګه يادومه.**
**د سپوږمۍ مخ له شرمه تک سور واوښت، په وارخطايي يې شاوخوا وکتله، ويل سندرې دې بس که، اوس به يې يو څوک واوري.**
**يوه ورځ خالد لکړه په لاس کې او ټولګې ته د ړندو په شان راغی، ويل ما خو خپلې سترګې يوې نجلۍ ته ورکړې، له دې سره سم ټولو وخندل او د سپوږمۍ خوا ته يې وکتل.**
**د وخت په تېرېدو سره د خالد او سپوږمۍ تر منځ مينه نوره هم ډېره سوه، اوس نو ټولګيوال هم ښه پوهېدل، بس يوازې يې د دوی د کوزدې انتظار کاوه.**
**يوه ورځ د ټولګي نماينده په ټوکه سپوږمۍ ته وويل: سپوږمۍ جاني تر څو به يو بل ته خواږه خواږه سره ګورئ، ژر کوزده وکړئ چې موږ هم يو نس ډوډۍ پکښې وخورو. سپوږمۍ وشرمېده او سترګې يې کښته واچولې.**
**په ټولګې کې د زلمي په نوم يو بل هلک هم و چې له خالد سره يې د اول نمره ګۍ له امله په زړه کې کينه ساتله او بل يې د سپوږمۍ پر سر هم سيالي ورسره درلوده. کله چې د زلمي مرکه د سپوږمۍ د کورنۍ له خوا جواب سوه، نو دا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سيالي ښکاره او خورا توده سوه، تر دې وروسته زلمي له سپوږمۍ او خالد سره بيخي سلام عليک بند کړل.**
**يوه ورځ چې سپوږمۍ ټولګي ته راغله، نو له درده سره او شنه کېده، پر خالد يې خوله راخلاصه کړه، ويل بې شرمه انسانه تا پر ما د څه ډول نجلۍ ګومان کړی و ها؟ څوک چا ته داسي چټې خبري ليکي؟**
**- کومي چټي خبري؟**
**- ځان ناګاره مه اچوه، پرون دي زما په دسکول کي خط نه و را ته ايښی؟**
**- قسم په خدای که ما ستا دسکول ته لاس هم وروړی وي، خط خو لا هلته پر پرېږده**
**- بس بس درواغ مه وايه ! هيڅ باور مي نه کاوه چي ته دي دومره بې حيا انسان يې.**
**خالد له شرمه سترګي کښته واچولې او له ټولګي څخه ووت.**
**څو ورځې وروسته د پوهنتون د اخيري سمستر امتحانو نه راورسېدل. په دې جريان کي خالد هڅه وکړه سپوږمۍ پوه کړي چي ستا په دسکول کي خط ما نه و ايښی، خو هغې نه منله او خالد ته يې اخطار ورکړ، ويل که بيا زما مخ ته راغلې، زما سره دي خبري وکړې او يا دي د پخلا کېدو هڅه وکړه، نو د پوهنتون اداري او خپلي کورنۍ ته به شکايت وکړم.**
**د پوهنتون امتحانونه تېر سول، د امتحانونو نتايج هم اعلان سول او د فراغت د جشن وخت راورسېد. د فراغت غونډه ښه په شان او شوکت سره پای ته ورسېده. محصلينو د غونډې په پای کي يو له بل څخه بخښني غوښتې، خدای پامانۍ يې سره کولې او خپلو کورونو ته تلل.**
**په دې وخت کي د ټولګي نماينده سپوږمۍ ته کرار وويل: سپوږمۍ جاني بايد ته هم له خالد سره پخلا سې، هسي هم نور پوهنتون نسته، ته پر خپله او دی پر خپله لاره ځي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سپوږمۍ د دې خبرې په اور بدو له درده تکه سره سوه، ویل د دې بې ادبه انسان نوم بیا مه رایادوه، له دې سره سم په چټکو ګامونو له تالار څخه ووته.**
**خالد تر فراغت وروسته په یوه نادولتي دفتر کې کار پیدا کړ. تصادفي د سپوږمۍ پلار هم په دې دفتر کې کار کاوه. که څه هم د سپوږمۍ پلار خالد نه پېژاند، خو خالد له ځینو خبرو څخه پوه سو چې دا د سپوږمۍ پلار دی.**
**یوه ورځ د سپوږمۍ پلار دفتر ته رانغی، په سبا چې راغی ویل په کور کې مو د ګازو ډبه چاودلې ده، د لور سترګې مې سوځېدلې او اوس په فلاني روغتون کې بستري ده، زه د دې لپاره راغلم چې رئیس ته دا مشکل ووایم او رخصت ځنې واخلم، همدا اوس بیر ته ځم.**
**کله چې د سپوږمۍ پلار له دفتر څخه ووت، نو خالد هم پټ پټ ورپسې روان سو، د سپوږمۍ پلار د ډاکټرانو ځانګړې کوټې ته ورغی او خالد یو ځای پټ ورته منتظر سو. کله چې د سپوږمۍ پلار راووت، نو خالد مخ ته ورغی، ویل زه د یوه ناروغ پوښتني ته راغلی وم، تاسي مې ولیداست او درته راغلم، ښه اوس دا ووایاست چې ستاسي ناروغ څنګه سو؟**
**د سپوږمۍ پلار سوړ اسوېلی وکیښ، ویل خالد جانه بس پوښتنه مه کوه، د لور ژوند مې تباه سو، ډاکټران وایي چې سترګې یې ړندې سوې دي، که یو څوک خپله یوه سترګه ورکړي، نو د یوې سترګې علاج یې کېدای سي، بیا یې په ناهیلۍ زیاته کړه: په نن وخت کې څوک چا ته خپله سترګه ورکوي. ما غوښتل چې خپله یوه سترګه ورکړم، خو ډاکټرانو ویل چې ستا سترګه نه ورسره لګېږي، خویندې او ورونه یې سترګه نه ورکوي، اوس نه پوهېږم چې څه وکړم. تر دې وروسته د سپوږمۍ پلار له خالد څخه رخصت واخیست او د سپوږمۍ خوني ته ولاړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خالد لکه سا چي يې ختلې وي، ځای پر ځای بې حرکته ودرېد او چور تونو يوړ، خو نابېره په چټکو گامونو د ډاکټرانو کوټې ته ورغی. ډاکټر ته يې وويل چي زه غواړم د سپوږمۍ په نوم ناروغ ته خپلي سترگي ورکړم. ډاکټر ويل سمه ده، خو اول دي بايد سترگي وگورم او بايد ځيني معاينات هم وکړې، تر هغه وروسته يو قرارداد درکوم، بايد هغه لاسليک کړې چي دا کار په خپله خوښه کوې. خالد ويل سمه ده، خو زه هم يو شرط لرم، هغه دا چي ته به هم وعده کوې چي تر عمليات دمخه به نه سپوږمۍ او نه هم د هغې کورنۍ ته وايې چي دا سترگه د چا ده. ډاکټر په خندا وويل: سمه ده وعده ده.**

**د سپوږمۍ د سترگو عمليات تېر سول، څو ورځې وروسته ډاکټر سپوږمۍ ته مبارکي ورکړه، ويل د سترگو عمليات دي بريالي سول، اوس دي سترگه بيخي جوړه ده، چندان څوک نه پوهېږي چي يوه سترگه دي خپله او بله دي د بل چا ده، بيخي يو ډول معلومېږي، سبا دي سترگي در خلاصوو، اوس استراحت وکړه.**

**سبا د سپوږمۍ کوټې ته يوه نرسه راغله او هغه يې د ډاکټرانو کوټې ته بوتله. ډاکټر ورته وويل چي اوس د سترگو پټۍ درخلاصوو او رخصتوو دي. نور ښه يې، اوس کولای سې چي د پخوا په شان ووينې، بيا يې زياته کړه چي ته ډېره نېکمرغه نجلۍ يې چي دومره ښه دوستان لرې. په دنيا کي داسي لږ دوستان پيدا کېږي چي چا ته دي خپله سترگه ورکړي، له دي سره سم يې د سپوږمۍ له سترگو څخه پټۍ ليري کړه، ويل اوس نو وگوره، خو گوره لومړی به د هغه چا خط لولې چي تا ته يې خپله سترگه درکړې ده. دا دی وگوره ! سپوږمۍ چي سترگي خلاصي کړې، نو ډاکټر يې مخ ته خط نيولی و، په خط کي داسي ليکلي وه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



*ګراني سپوږمۍ جاني!*

*تا به د محصلۍ پرمهال تل راته ویل چې ستا شنې سترګې مې ډېرې خوښېږي، کاشکې ستا سترګې زما وای. ما تا ته هغه وخت هم ویلي وه چې زه خپلې سترګې درکوم، خو ستا زړه ته نه لوېده، تا چې ویل دی ټوکې راسره کوې. زه ډېره بخښنه غواړم چې بیا دې هم یوه سترګه پوروړی یم، خو هیله ده ما ملامت و نه ګڼې، ما غوښتل تا ته خپلې دواړې سترګې درکړم، خو ډاکټر اجازه نه را کوله. پام دې وي چې زما سترګه ښه وساتې او هره ورځ یې په رانجو توره کړې، ځکه چې زما په رانجو تورې سترګې ډېرې خوښېږي.*

*داسې هڅه مه کوه چې ما پیدا کړې او د سترګې په خاطر کورودانی راته ووایې. ما دا کار یوازې د دې لپاره کړی چې ته ما وبخښې. په دې پسې هم مه ګرځه چې زه اوس چېرې اوسېږم. زه له هیواده ډېر لیرې ولاړم، نه پوهېږم چې بیا به سره ووینو که نه، خو زه او ته بیا هم سره نژدې یو، د دوو سترګو تر منځ واټن ډېر لنډ وي، یوازې د یوه سلایې په اندازه فاصله ده بس.*

*په درنښت*

*ستا خالد*

سپوږمۍ سترګې پټې کړې او کاغذ یې په ځیګر پورې کلک ونیو، خو بیرته یې سترګې روڼې کړې، مخامخ هینداري ته یې وکتل، تر ړنده سترګه یې یوه رڼه اوښکه راغله، خو نوې او شنه سترګه یې له خندا ډکه ښکار بده. شنه سترګه وار په وار لوېده او د پوهنتون چمن پکښې راښکاره سو، په چمن کې دا او خالد سره ناست ول، دا خالد ته وایي: ستا شنې سترګې مې ډېرې خوښېږي، کاشکې ستا سترګې زما وای. خالد په ټوکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وايي: ته ودر يږه همدا اوس زما سترګي تا ته درکوم. په دې وخت کې سترګو ته ګوتي نيسي، وايي ها درواخله زما سترګي يې ستا، خو ګوره بيا به مي تر لاس نيولى ګرځوې او پوهنتون ته به مي هم ته راولې. سپوږمۍ له شرمه تکه سره سې او خپل لاسونه په ځان پوري ټينګ ونيسي.

په دې وخت کي يې ړندې سترګي سخت سوى وکړ او د توري ښيښې غوندي ښکاره سوه، وار په وار پسي غټېده، په ښيښه کي يې خپل بل ټولګيوال زلمی وليد. زلمی لکه بلا تور مخ او بې ډوله شکل يې درلود، په قاه قاه يې وخندل، ويل سپوږمۍ ځنګه ودي ليده چي ځنګه مي کسات درڅخه واخيست ؟

کله چي ستا کورنۍ زما مرکه جواب کړه، نو ما ويل ولاکه له خالد سره هم واده وکړې، نو هغه و چي د خالد په نوم مي پر کاغذ چټيات وليکل او بيا مي هغه کاغذ پټ ستا په دسکول کي کښېښود، له دې سره سم يې په لوړ اواز وخندل. په دې وخت کي سپوږمۍ په زوره چيغه کړه، ډاکټر يې پر سترګو پټۍ ورکښېښووله، ويل لږ ارام وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قوماندانه توړۍ

زه د لسو کالو ومه چي قوماندانه توړۍ به مي په کوڅه کي لیدله. هغې به له کوره کثافات را ایستل او لیري په یوه ډګر کي به یې اچوله. هغه داسي ډنګره وه چي د پښتۍ هډوکي یې له ورایه ښکارېدل. پخوا به یې سر په نکریزو سور کاوه، خو له یوه کال راهیسي یې نه و رنګ کړی، اوس یې سر نه سپین او نه سور و، بلکي شین وزمه غوندي ښکارېده. وېښتان یې داسي څپوله او سره ګډوډ سوي ول تا چي ویل په کال کي یې هم یو وار نه پر ېولي او نه ږمنځ کړي دي.

قوماندانه توړۍ مي د ګاونډي کره څو واره لیدلې وه. هغه لېونۍ نه وه، ټول کارونه یې د پر سد او هوښیاري ښځې په ډول وه، سهار تر ماښامه به د کور په کارونو بوخته وه او د ضرورت وړ خبري یې په ډېره مهربانه لهجه کولې، خو که چا به قوماندانه توړۍ ورته وویل، نو د دې اعصاب به ګډوډ سول

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او بدرد به یې شروع کړل. زما هغه مهال دې خبري ته پام سو چي کله به هغه کوچنیانو په کوڅه کي ولیده، نو پسي ناري به یې کړې، ویل هغه ده قوماندانه تورۍ راغله، په دې وخت کي به دې ته درد ورغی، په کوچنیانو پسي به یې منډه کړه او په کاڼو به یې ویشتل، ویل ستاسي پلار به قوماندان وي، ستاسي مور به قوماندانه وي، ستاسي خور به قوماندانه وي د ... زامنو !**

**زه به حیرانه سومه چي خلک ولي دې ته قوماندانه تورۍ وایي او دا ولي په دې نوم بد وړي؟ یوه ورځ مي په دې اړه له خپلي مور څخه پوښتنه وکړه، هغې ویل په دې خبرو پسي مه گرځه. خدای چا ته د خپل بد عمل سزا په اخیرت او چا ته په دې دنیا کي ورکوي، دې ته هم له خپله لاسه ورپېښه ده، بیا به یې د توبې په ډول پر پزه او غوږو گوته تېره کړه، ویل خدای مو دي د دې له حاله وساتي.**

**یوه ورځ مي د مکتب کورنی کار کاوه. د خاله لور مي له خپلو دوو کوچنیانو سره زموږ کره مېلمنه راغلې او د څنگ په خونه کي یې زما له مور سره مجلس کاوه. په خبرو خبرو کي یې زما له مور څخه د قوماندانې تورۍ پوښتنه وکړه، ویل کله چي زه ستاسي کره راتلم، نو دې په کوڅه کي په کوچنیانو پسي منډې وهلې او په کاڼو یې ویشتل، ډېر مي زړه پر وسوځېده. مور مي نه غوښتل د قوماندانې تورۍ د ژوند کیسه ورته وکړي، خو هغه ورته ټینگه سوه، ویل خامخا به یې کیسه راته کوې. ما چي له پخوا څخه غوښتل د قوماندانې تورۍ په کیسه ځان خبر کړم، نو د څنگ د کوټې کړکۍ ته نژدې سوم او غوږ مي ورته ونیو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قوماندانې توړۍ اصلي نوم روښانه ده. دا په ځوانۍ کې دومره ښايسته وه چې د مرکو وار نه ورباندې کېده، يوه مرکه به نه وه تللې چې بله به بيا ورته راغله. د نصيب خبرې دي روښانه يې د فريد په نوم يوه هلک ته ورکړه او واده سوه.

فريد که څه هم غريب سړی و، خو دا ډېره پر گرانه وه او ښه يې نازوله، بس چې دې به هر څه ويله فريد به ( نه) نه ورته ويل. روښانې به کله ويل د مور کره په مېلمستيا ځم، کله به يې ويل د خاله کره ځم، بس هره ورځ به دا يو ځای روانه وه.

د کور کارونو ته به يې گوتې نه وروړلې، هر څه يې پر تياره غوښتل. خواښې بېچاره گۍ به يې په سپين سر د کور ټول کارونه کول، خو دې ته يې له وېرې څه نه سوای ويلای، که يې ورته ويلي وای، نو جنجال يې کاوه او اسمان يې مځکې ته راکښته کاوه.

د کور کار ته خو يې خواښې اوږه ورکړې وه او دومره بدنامي هم نه بلل کېده، خو هره ورځ له ضرورت پرته له کوره وتلو يې د شاوخوا گاونډيانو پام ځان ته راواړاوه او اخير خبره له گنډلو ووته.

يوه ورځ د روښانې لېورونو فريد ته وويل چې لالا ور ېنداره سمه نه معلومېږي، ته ډېر باور ورباندې لرې، خو خلک ډول ډول خبرې کوي. څوک وايي له فلانې سره مو وليده، څوک وايي په فلانې ځای کې مو وليده. اوس قسم په خدای که له شرمه پورته کتلای سو، که زموږ خبره منې نو لږ يې راوگرځوه. فريد به ويل زه روښانه پېژنم، هغه هيڅ کله داسې کار نه کوي چې موږ دې وشرموي، تاسې بې ځايه پر هغې تورونه لگوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوه ورځ فرید کور ته راغی، ګوري چې روښاني ځان یو غوړپ ( سینګار )کړی دی. فرید ویل څه خبره ده؟ روښاني ویل د اکا د لور دسمال مي دی، زه هم ورځم. فرید تندی تریو کړ، ویل سړی خو یوه اجازه اخلي، زه خبر نه یم او تا بیا خپل پر سر غوټه ترلې او مېلمستیا ته روانه یې. روښاني سترګي پر راغتې کړې، ویل ستا په کور کي خو مي ولاکه په یوه جوړه نویو کالو ارمان ختلی وي، اوس مي د خپلوانو له کورونو هم راګرځوې؟**

**روښانه په خپل ښایست ډېره مغروره وه او فرید ته به یې هره ورځ د هغه د بېوزلۍ پېغورونه ورکول، اوس نو ټوله کورنۍ پوهېده چې روښانه خامخا د کور دباندي له یو چا سره اړیکی لري. فرید بېچاره چې تر دې مخکي به یې تل د روښاني ننګه کوله او د وروڼو خبري به یې نه منلې اوس ډېر ځور بده، خو نه پوهېده چې څه وکړي. له یوې خوا یې ښځه له کنټروله وتلې او له بلي خوا که یې طلاق ورکولای، نو د بل واده وس یې نه درلود. په همدې کي څلور پنځه کاله تېر سول او روښاني درې زامن هم پیدا کړل.**

**یوه ورځ فرید په بازار کي له دوکان څخه سودا اخیسته چې یو موټر د دوکان مخ ته ودرېد، یو قوماندان له موټر څخه راکښته او د سودا لپاره دوکان ته ودرېد. فرید چې موټر ته وکتل، نو ګوري چې روښانه د مخ په سیټ کي ناسته او ځان یې ښه ختټه سینګار کړی دی. د روښاني په لیدو سره د فرید پر سر لکه اور چې بل سي، په منډه یې د موټر دروازه خلاصه کړه، روښانه یې د سر تر وېښتانو ونیوله او پر سړک یې راچپه کړه. یو څو لغتي چې یې ووهله، نو نابېره یې د شا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوا پر سر د توپک کونداغ ولګېد او بې سده پر بوت. کله چي یې سترګي راروښي کړې، نو څو دوکانداران پر راټول ول او په خوله کي یې خوړې اوبه ورتویولې. فرید په کمزوري ځان کور ته ولاړ، له شرمه یې له مور او وروڼو څخه دا کیسه پټه کړه.

تر دې وروسته روښانه څو واره نور ه هم له قوماندان سره ولیدل سوه، اخیر به خلکو روښانه قوماندانه بلله، اوس نو ټول خلک پوهېدل چي روښانه څه کوي او څنګه ښځه ده.

یوه ورځ روښانه له کوره ووته او تر یوې میاشتي پوري غیب و غړوبه وه.

یوه ورځ یو چا د فرید دوی کور ته لیک راوړ چي داسي پکښي لیکلي وه: ((فریده ستا سره مي ډېري لوړي او تندي وګاللې، نور یې نه سم زغملای، زړه دي صبر کړه، ما بل واده وکړ، ته پوه سه او اولادونه دي)).

په دې وخت کي د فرید له پښو څخه مځکه وتښتېده، سر یې پر له وګرځېد، نه پوهېده چي څه وکړي. له شرمه نه مځکه چاودله او نه دی په ننواته. په سبا یې له وروڼو سره په مشوره پلارنی کور خرڅ کړ او یوه لیري ځای ته کډه سول.

روښاني داسي فکر کاوه چي قوماندان واده ورسره کوي، خو هغه یو څو ورځي د خپل ساتېري لپاره له ځانه سره وساتله او بیا یې پر خپل یوه انډیوال خرڅه کړه. روښانه په دې وخت کي د ځوانۍ او مستۍ له خوبه راویښه سوه، ډېره پښېمانه وه، نه پوهېده چي څه وکړي او څنګه بیرته د عزت ژوند شروع کړي. اخیر یې فکر وکړ چي دا ښایسته ده او پخوا پر مېړه ګرانه وه، که له دې کار څخه توبه وکاږي او له خپل مېړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه بخښنه وغواړي ښايي هغه يې وبخښي. کېدای سي له دې امله يې هم وبخښي چي د کوچنيو زامنو له لاسه به تنګ سوی وي، کېدای سي له دې امله يې هم وبخښي بېوزله دی د بل واده وس نه لري. هغه و چي د قوماندان د انډيوال له کوره وتښتېده او د فريد کره ورغله. په دې وخت کي فريد بل واده کړی و، مور او ورونه يې يو نامعلومه ځای ته کډه سوي او کوچني زامن يې انا له ځانه سره بېولي ول.

نيمه شپه د فريد دروازه وټکېده. فريد چي دروازه خلاصه کړه، نو ګوري چي روښانه د کور مخ ته ولاړه او په چيغو چيغو ژاړي.

فريد روښانه و نه بخښله، شکنجه خو پر پرېږده چي ښکنځل يې هم نه ورته وکړه، څو شېبې يې په پټه خوله ورته کتل، سترګي يې له اوښکو ډکي سوې، کور ته د ننوتو اجازه يې ور نه کړه او د کور دروازه يې ورته وتړله. روښاني يو څو شيبې د تړلي دروازې تر شا وژړله،اخير مجبوره سوه د پلار کره ولاړه، خو پلار يې هم له شرمه جرئت و نه کړ چي ځای ورکړي، تر هغه وروسته د اکا د لور کره ولاړه. د اکا د لور خسرګنۍ هغې ته د اوسېدو ځای ورکړ، خو دا شرط يې ورباندي کښېښود چي چا ته به د دوی د خپلوۍ نه وايي، يوازي به وايي چي خپلوان نه لري او د دوی مزدوره ده. بل دا چي له کوره به هم نه وزي او که پخواني کارونه يې بيا تکرار کړل، نو په هغه ورځ يې له کوره شړي. روښاني هم دا شرطونه ومنله او څو کاله کېږي چي په دې کور کي چوپړ وهي.

روښانه په ځوانۍ کي خلکو قوماندانه بلله، خو اوس چي زړه سوه، نو قوماندانه توړۍ يې بولي. دا لکه ځنګه چي له بنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زړه معلومېږي دومره زړه هم نه ده، ایله د څلوېښتو کالو به وي، خو له رنګه اویا کلنه معلومېږي.**
**اوس چې کله څوک قوماندانه یا قوماندانه تورۍ ورته ووایي، نو دې ته تېر ژوند ورياد سي. که ماشوم ورته وویل چې قوماندانې تورۍ، نو دا یې په ډېرو ولي، خو که لوی په دې نوم وبلله، نو په پټه خوله یې زغمي، بس یوازې یې سترګې له اوښکو ډکې سي.**
**روښانه چندان له چا سره خبرې نه کوي، د خپل تېر ژوند په اړه خو بيخي چا ته څه نه وايي، کله کله له ځان سره وايي:**
**(( زه رشتيا هم چې بدلمنې يمه، له خپل مېړه، اولادونو، کورنۍ او قوم سره مې خيانت وکړ، بايد دغه ډول سزا راکول سوې وای، خو نه پوهېږم هغه نارينه چې زه يې دې کارونو ته هڅولم او زما سره يې اړيکې درلودې هغوی په څه نوم يادېږي؟ ايا له هغوی څخه هم خلک زما په اندازه کرکه کوي؟ دوی ته خلک په کومه سترګه ګوري؟ ايا دوی هم زما په شان په وطن کې د اوسېدو ځای نه لري؟ دوی هم دغسې ټيټې سترګې ژوند کوي؟ قوماندان، وکيل صاحب، قاضي صاحب، وزير صاحب، فلانی، فلانی ... ما اورېدلي چې دوی اوس هم هغه پخواني کارونه په ښکاره کوي، خو دوی ټول ارام او د عزت ژوند لري)).**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قاتله هم زه او مقتوله هم زه

نیمه شپه وه، د کور ټول غړي په خواږه خوب ویده ول، خو ورمې ته خوب نه ورته، له خپلي خوني راووته او د کور په غولي کي یوازي کښېناسته. په کور کي چوپه چوپتیا خپره وه، یوازي د چورچورکي اواز اورېدل کېده چي د ورمې له اسویلي سره به ګډ سو او یوه بې سوره نغمه به ځني جوړه سوه. ورمې سترګي د اسمان خوا ته ونیولې، لکه غواړي چي له څوارلسمي سپوږمۍ سره د زړه خواله وکړي، خو سپوږمۍ غوږ نه ورته نیوه، بس یوازي به یې د دې پر باړخوګانو د اوښکو ملغلري وځلولې. ورمې پرله پسې اسمان ته کتله، کله چي یې سترګي وچي سوې، نو سر یې پر زنګنو کښېښود او له ځان سره یې وویل: مشرانو ښه ویلي دي چي ((څه کرې هغه به رېبې)). ما خپله د ځان لپاره دا یوازیتوب غوره کړ، اوس د ګیلې حق نه لرم. د ژوند کولو حق هم نه لرم. بیا به یې اسمان ته وکتل، لکه له یو چا سره چي خبري کوي: ګرانه ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله غوښتل چې داسې دي وسي. کشکي خو داسې نه وای سوي، که زه لومړی پوهېدلې وای، نو داسې به نه پېښېدل.**

**ورمې له یوه کال راهیسې په دفتر کې کار کاوه، په شعبه کې د اسد په نوم یو همکار هم ورسره و. اسد له ورمې سره ډېر ښه چلند کاوه، نه یوازې دا چې خپل کارونه یې په ښه ډول کول، بلکې د ورمې په کارونو کې یې هم مرسته ورسره کوله. اسد ډېرې لږ خبرې کولې، که چا پوښتنه نه وای ځنې کړې، نو ده چندان څه نه ویل، د همدې خوی له امله هغه ډېر دروند ښکار بده. د دفتر ډېرو همکارانو غوښتل د اسد خبرې واورې، خو اسد یوازې له ورمې سره خبرې کولې او هغه هم چې په دفتر کې به نور څوک نه وه، پر رسمي خبرو سرېېره یې د خپل شخصي ژوند په اړه هم د زړه خواله ورسره کوله. ورمې د دفتر له ټولو همکارانو سره په خندا او ورین تندي خبرې کولې، خو اسد له دې چلند څخه ډېر خوشاله و، کله چې به یې د ورمې خوله له خندا ډکه ولیده، نو زړه به یې باغ باغ سو.**

**یوه ورځ اسد دفتر ته رانغی، کله چې په سبا راغی، نو ورمې د پخوا په ډول په خندا او مهربانۍ د هغه د نه راتلو علت وپوښت. اسد اوږده ساواخیسته، ویل تر اوسه مې په دفتر کې چا ته نه دي ویلي، زه یو ډول خطرناکه ناروغي لرم، حملې راباندې راځي او بې سده کېږم. کله چې یوه حمله راباندې راسي، نو څو ورځې مې سر درد کوي او سربداله (گنگس) یم. ورمې چې دا خبرې واورېدې، نو له اسد سره یې خواخوږي پیدا سوه، تر دې وروسته به یې هغه ته د زړه داډ ورکاوه، هڅه به یې کوله چې خوشاله یې وساتي او لږ تر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږه د دې له خوا و نه ځورول سي. که څه هم دا ډول همدردي له اسد سره د کور غړو هم کوله، خو د وږمې همدردي د اسد پر زړه داسې لګېده لکه مرهم.
پخوا به اسد له وږمې سره د دفتر په کارونو کې مرسته کوله، خو اوس برعکس وږمې هڅه کوله چې د اسد د کارونو بار پر خپلو اوږو واخلي او هغه ته هيڅ ډول تکليف و نه رسېږي.
د وږمې دې ډول چلند د اسد پر صحي وضعيت خورا ښه اغېز وکړ، ورځ په ورځ يې ناروغي ښه کېده، يو وخت داسې هم راغی چې اسد بيخي روغ رمټ سو، د هيڅ ډول تکليف احساس يې نه کاوه. که څه هم څوک نه پوهېدل چې اسد به په کور کې څنګه وي، خو په دفتر کې به روغ جوړ و، په تېره بيا کله چې به يې وږمه وليده، نو سترګي به يې وځلېدې او له خوشاليه به په کاليو کې نه ځايېده.
يوه ورځ وږمې د خپلې خواخوږۍ په لړ کې اسد ته وويل چې ته بايد د درملني لپاره هندوستان ته ولاړ سې، وايي چې هلته ډېره ښه او ارزانه درملنه کېږي. په دې وخت کې د اسد مخ تک سور واوښت، لومړی يې په شعبه کې شاوخوا وکتله او بيا يې کښته وکتل، په ر ېږد ېدلي اواز يې وويل: وږمې جانې زه به ولې هندوستان ته ځم؟ زما هندوستان او ډاکټر خو ته يې، کله چې ته دې شعبې ته راغلې يې، نو زما ناروغي يو مخ ورکه سوې ده. وږمه د دې خبري په اور ېدو له حيا څخه تکه سره واوښته، مخ يې بلې خوا ته واړاوه او ځان يې په کاغذونو بوخت کړ، په شعبه کې چوپتيا خپره سوه. يوازې د دېوالي ساعت ټک ټک اور ېدل کېده.
کله چې اسد کور ته ولاړ، نو ډېر نارامه و، له ځان سره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوډ وکړ چي سبا به ورمي ته خامخا وايي چي مینه درسره لرم او غواړم واده درسره وکړم. د اسد خبره سپینه وه، خو د نارامۍ یې علت دا و چي ورمه به څه ځواب ورکوي؟ که د (نه ) ځواب ورکړي دی به څه کوي؟ تر سهاره یې په زړه کي کرل او رېبل چي دفتر ته د تګ وخت راورسېد. نن اسد تر پخوا ډېر خوشاله و، نن یې د پخوا په پرتله په ځان هم ګوته وهلې وه، نوې دریشي، عطر او له خوشالیه ډک ورین تندی یې هغه څه وه چي د هر چا پام یې ځان ته وراړاوه. بس د خوشالۍ کار و، له اسد څخه د رسمیاتو وخت هم هېر سوی او نن دفتر ته یو ساعت وختي ولاړ، هغه ته یو ساعت لکه کال دومره اوږد سو، دوې سترګي یې د شعبې د دروازې پر لور ځلور سوې، خو واره له شعبې راووت او بیا به بیر ته ننووت. که د اسد دا حرکات هر چا لیدلي وای، نو فکر یې کاوه چي نن خامخا څه نوې خبره سته. د انتظار شېبې پای ته ورسېدې او ورمه شعبې ته راننوته. اسد چي مخکي لا د ورمې په درناوي کي پر خپل ځای ولاړ و، تر ستړې مسي وروسته کښېنسته وکتل او ورمې ته یې کرار وویل: ورمې جاني نن یوه نوې خبره درته کوم. ورمې فکر وکړ لکه چي بیا د پخوا په شان د خپلي ناروغۍ په اړه یو څه راته وایي، نو په خندا یې ورغبرګه کړه: هو اسدجانه مهرباني وکړه، نن ډېر خوشاله ښکارې، څه خبره ده؟ اسد لومړی شاوخوا وکتل، بیا د ورمې خوا ته څو ګامه وروړاندي سو، د هغې لاسونه یې په خپلو لاسونو کي ونیول او په بنده بنده ژبه یې وویل: زه ناروغ وم، له ژوند څخه مي تمه ختلې وه، خو ستا میني زه جوړ کړم، تا ماته له سره نوی ژوند راکړ، زه اوس داسي فکر کوم چي بې له تا ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه سم کولای، اوس تا ته دومره ځان نژدې احساسوم لکه زه چې وجود او ته مې روح یې، ایا زما سره واده کوې؟**
**ورمې ژر له اسد څخه خپل لاسونه کش کړل او په درد یې وویل: ما ستا سره یوازې انساني خواخوږي کوله بس، خو ته داسې فکر کوې چې زه ستا سره مینه لرم ها؟ تا ته خو ځان درمعلوم دی چې څومره بده ناروغي لرې، خدای خبر چې ته به یو کال ژوندی یې که نه، زه دومره ساده درته ښکاره سوم چې له یو ناروغ او مړخوږک سره به واده کوم او خپل ژوند به په لوی لاس تباه کوم؟ اسده ته خطاوتلی یې، لږ له ځانه سره فکر وکړه، پوه سوې؟ له دې سره سم ورمې دسکول غاړې ته واچاوه او په چټکو ګامونو له شعبې څخه ووته.**
**د اسد پر سترګو توره تیاره راغله، ځای پر ځای کښېناست، سر یې په لاسونو کې ونیو، د ورمې دا جمله یې په ذهن کې پرله پسې تکرار بېدله: ((خدای خبر چې ته به یو کال ژوندی یې که نه، زه دومره ساده درته ښکاره سوم چې له یو ناروغ او مړخوږک سره به واده کوم او خپل ژوند به په لوی لاس تباه کوم؟)) اسد له ځان سره وویل: ما هغې ته رښتیا وویل چې زه او ته ډېر سره نژدې یو، دومره سره نژدې یو لکه روح او جسد، خو نن چې زه ورمې رد کړم، زما روح ووت، زه نور مړ یم، سر له اوس څخه مړ یم.**
**اسد تر دې وروسته بیا دفتر ته رانغی. ورمه یو څو ورځې پر خپل تونډ چلند ډېره پښیمانه وه، خو وروسته یې ځان ته داسې ډاډ ورکړ: که داسې مې نه وای ورته ویلي، نو څه مې ورته ویلي وای؟ ما خو له هغه سره مینه نه، بلکې یوازې انساني خواخوږي درلوده، توبه خدایه ! په دې نړۍ کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عجیبه خلک سته، ته به له زړه سوي او خواخوږیه مرسته ورسره کوې، خو دوی به یې مینه ګڼي، ښه سو چي هر څه مي سپین ور ته وویل، همدا یې ځواب و.**

**څو میاشتي وروسته وږمې استعفا ورکړه او په یو بل دفتر کي یې کار پیل کړ. یو کال وروسته یې په یوه سیمینار کي د خالد په نوم خپل یو پخوانی همکار ولید، په خبرو خبرو کي خالد وویل: وږمې ستا زموږ همکار اسد په یاد دی؟**

**– هو یاد مي دی، دا پوښتنه دي څنګه وکړه؟**

**– هغه بیچاره خو مړ سو**

**– څه شی مړ سو ! څنګه مړ سو؟**

**– نور نه یم خبر، په فاتحه کي یې ورور ویل چي ډېره خطرناکه ناروغي یې درلوده، د چا زړه ته نه لوېده چي ژوندی دي پاته سي، خو د ژوند په وروستیو میاشتو کي سوکه سوکه ښه کېده، اخیر بیخي روغ جوړ سو، ان دا چي ډاکټران حیران ول چي دومره خطرناکه ناجوړي څنګه خپله جوړ ېدای سي، ډاکټرانو ویل چي دا بیخي یوه معجزه ده، خو ناڅاپه بیر ته ناروغه سو، له ځان سره به یې ژړل، خو چا ته یې څه نه ویل، ډاکټرانو ویل چي پخوانۍ ناروغي یې ښه سوې او بله ناروغي ور ته پیدا سوې ده، په زړه کي یو پټ غم لري لکه مین سوی چي وي، تر څو معلومه نه سي چي پر چا مین سوی او معشوقه یې چېري اوسېږي او څه وایي، د دې ناروغۍ علاج امکان نه لري. ډاکټرانو او د اسد خپلوانو چي به اسد هر څومره وپوښت، هغه څه نه ویل، هغه و چي یوه ورځ یې مور سهار د خوب کوټې ته ورغلې وه، ګوري چي اسد مړ پروت دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورمې چې دا خبره واورېده، نو بڼه يې والوته، رنګ يې لکه زعفران ژېړ واوښت، داسې يې وانګېرله لکه اسد چې يې په خپل لاس وژلی وي، د داسې درد احساس يې کاوه لکه خپل ځان چې په زړه کې په چاړه وهي، په زړه کې يې وويل: زه ډېره بدمرغه نجلۍ يمه، قاتله هم زه او مقتوله هم زه.**

**د اسد له مرګ څخه شل کاله تېر سوي دي، خو ورمه داسې فکر کوي لکه اسد چې نن مړ سوی وي، ورمه ببر سر ګرځي، ځان ته هيڅ پام نه کوي، اکثره وخت پټه خوله وي، خو کله کله بيا لکه لېونۍ له ځان سره خبرې کوي، په لومړيو وختونو کې ډېرې مرکې ورته راغلې، خو دې و نه منلې، هغه هره ورځ وايي چې قاتله هم زه او مقتوله هم زه. دا خبره که څه هم اوس د کوڅې د ماشومانو په خوله کې لوېدلې ده، خو کورنۍ يې اوس هم نه پوهېږي چې دا خبره څه مانا لري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زندۍ سوي هيلي

پروانه د مور او پلار يوازينۍ لور وه، ځکه خو د مور او پلار نه
زړه کېده چي ژر يې مېړه ته ورکړي او يا داسي کور ته وادہ
سي چي هلته نه وي خوشاله. پروانې دوی ښه شتمن خلک
ول، خدای د شتمنۍ تر څنګ د خدای مال اته ورونه هم
ورکړي ول چي پر هر ورور بې حده ګرانه وه. دا چي د پروانې
د ښايست، ښو اخلاقو او کمالاتو اوازې تر ليري ليري کليو
پوري تللي وې، نو د هغوی پر کور د مرکو شخوَل ( ګڼه ګوڼه)
جوړه وه، يوه مرکه به نه وه تللې چي بله مرکه به راغله.د
پروانې کورنۍ هڅه کوله چي هغه په يوې داسي کورنۍ کې
واده کړي چي هلته نېکمرغه ژوند ولري، خو اخير هغه ورځ
هم راغله چي پروانه يې يوه هلک ته ورکړه. د پروانې دوی د
کورنۍ په فکر دا يوه داسي کورنۍ وه چي دوی غوښته.
د پروانې واده ښه په ډول او درازه، شان او شوکت سره تېر
سو، هغه د چا خبره وريجي او غوښي په چارښاخو بادېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروانې ته يې مور او پلار له خپلي خوا د سرو زرو دومره ګېڼې او د کور سامانونه ورکړي ول چي ښځو ګوته په غاښ ور ته ونيول، د پښتني رواج او ظاهري کړووړو له مخي د مېړه په کور کي د يوې نېکمرغي مېرمني همدا نښي نښانې وي.

پروانه تر يوه مهاله پوري ښه خوښه او خوشحاله وه، خو څو مياشتي وروسته د هغې مېړه جبار بد چلند ورسره شروع کړ، پر ډېره کوچنۍ خبره به يې وهله تر ټله، ان دا چي د وهلو او ډبولو لپاره يې هسي پلمه ور ته غوښته. پروانه چي د پلار په کور کي په ډېر ناز او نعمتونو رالويه سوې وه، دا شکنجې او سپکاوی خورا ګران ور ته تمامېده، خو دا هر څه به يې په ډېره حوصله زغمل او فکر يې کاوه چي وروسته به له دې ستونزو سره عادي سي او يا به يې د مېړه په ذهن کي بدلون راسي. خواښي به يې هم ور ته ويل چي لوري هوښ کوه ( پام کوه) چي د مېړه د بدو خويونو په اړه پلارګنۍ ته حال و نه وايې، هره ناوې د خسرګنۍ په کور کي څه ناڅه ستونزي لري،خو وروسته حل کېږي، ته لا نېکمرغه يې چي يوازي دي مېړه بد چلند درسره کوي، له ځينو ناويانو سره ټوله خسرګنۍ بد کوي، خو که ته د مېړه په اړه خپلي پلارګنۍ ته حال ووايې، نو په خسرګنۍ کي به هم خواخوږی پیدا نه کړې، صبر وکړه د وخت په تېرېدو سره به خدای هر څه سم کړي.

پروانې هم د خواښي خبره ومنله او هر ډول شکنجې او سپکاوی به يې په پټه خوله پر ځان تېراوه.

څو مياشتي وروسته د پروانې د ورور د واده وخت راورسېد. د پروانې ورور د هغې د خسرګنۍ کره ولاړ چي هغه له ځان سره واده ته بوزي. په همدې ورځ پروانه سخته مېړه وهلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګي يې سرې وې، د هغې ورور څو واره د هغې د خفګان علت وپوښت، خو پروانې پلمه ورته وکړه، ويل تاسي مي ياد بېدلاست، ژړا راغله، نور څه خبره نسته. کله چي پروانه له ورورسره د پلار کره روانېدله، نو مېړه يې ورته وويل چي بايد يوازي دوې شپې وکړي.

پروانه د پلارګنۍ کره ولاړه، يو خو يې د ورور واده و او بل نو څو مياشتي وروسته د پلار کره تللې نه وه او بايد ډېره خوشاله واى، خو د هغې په تندي کي د خواشينۍ نښي نښانې له ورايه ښکار بېدې. کله به يې د جبار جبر، وهل ترټل او سپکي خبري وریاد سوې، سترګي به يې له اوښکو ډکي سوې، خو ژر به يې پاکي کړې او داسي يې ښووله چي ګواکي سترګي يې خوږ يږي.

تر واده دوې ورځې وروسته پروانې غوښتل کور ته ولاړه سي، خو مور او ورونو يې نه پر ېښووله، ويل سبا به ولاړه سې. پروانې ته که څه هم د جبار بد خوی ورمعلوم و، خو دا چي د ورور واده يې و لږ ډاډه وه چي ښايي جبار به څه نه ورته وايي، هغه و چي يوه شپه يې بله هم وکړه او په سبا کور ته ولاړه. پروانه ډېره خوشاله وه، ځکه چي د خسرګنۍ لپاره يې ښه سوغاتونه راوړي ول، پروانې لا د سوغاتونه غوټه نه وه پرانيستلې چي مېړه يې خوني ته ورغی، تر څو چي پروانې خبره کوله، نو مېړه يې لکه وږی پړانګ ورباندي غوټه سو او تر ستوني يې ونيوله، تر هغو يې وهله ډبوله چي بې سده سوه. مېړه چي يې له خوني ووت، نو خواښې يې ورغله، ګوري چي د پروانې سترګي رډې رډې راختلې، تر خوله يې ځګونه راغلي او سا يې ختلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جبار دوی پروانې ته ژر ژر غسل ورکړ او په کفن کې يې ونغښتل، پلارګنۍ ته يې خبر ورکړ چې هغه په واده کې مسموم سوې او کور ته له رسېدو سره سم مړه سوه. د پروانې پلارګنۍ داسي وخت راورسېده چې پروانه يې قبر ته ورکښته کوله، خو د هغې يوه ورور وويل چې زه خپله خور يو وار ګورم، زما خور ناروغۍ نه ه وژلې، بلکي تاسي وژلې ده، هغه روغه جوړه وه، څنګه کېداى سي چې داسي نابېره دي مړه سي. که څه هم د پروانې خسرګنۍ او نورو خلکو د پروانې ورور منع کاوه، خو هغه له زوره کار واخيست او د پروانې کفن يې خلاص کړ، ګوري چې پروانه تکه شنه اوښتې، په غاړه کي يې د زندۍ شنه داغونه او پر بدن باندي يې د وهلو ډبولو نښې له ورايه ښکاري.**

**پروانه يې بير ته په قبر کي کښېښووله او فاتحه يې هم تېره سوه. په دې پسې يو کال تېر سو او د پروانې کيسه هم د خلکو له ياده ووته، خو دا کيسه د پروانې د ورور په ذهن کي ورځ په ورځ تازه کېده. يوه ورځ سهار مهال جبار په خپله ځمکه کي کار کاوه چې د نژدې لښتي له خوا يو چا وررږغ کړه: تا څه فکر کاوه چې پروانه څوک نه لري چې کسات يې واخلې؟ له دې سره سم پر له پسې پنځه ډزي وسوې او جبار پر ځمکه پړمخي ولوېد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تور لاسونه

د هغې له څېرې څخه اوس د ناوسۍ له امله پوډرو، رانجو، رنګونو او سینګار نورو توکو کډه کړې او اصلي څېره یې ښکارېده. د زندان پر توره میله یې خپله لنډۍ زنه تکیه کړې وه، څپوله او ګډوډ وېښتان یې پر تندي را ایله سوي ول، سترګې یې نیمکښه نیولې وې، تر اوږدو چورتونو وروسته یې شونډې وښورېدې او له ځان سره یې داسې وویل: ما د یو سپېڅلي انسان پر سپین مخ خپل تور لاسونه ومښل، د مور د شیدو په شان په یوه سپین انسان مې تور پوري کړ. کېدای سي دې زندان ته به ځیني بې ګناه ښځې هم راغلې وي او زما په شان به خلکو تور لاسونه پوري مښلي وي، خو زه په رشتیا چې ګناهکاره یم، دغه راسره ښايي، باید زندان ته راوستل سوې وای.
ورمه په ونه ټیټه او له رنګه توره وه، خو کره وړه یې ښه وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جذابه ښکار ېده، هغه د چا خبره نه وتلې او نه نتلې وه. یو څه یې خپل جذابیت و او یو څه دې په ځان گوته وهله او هڅه یې کوله چې ښکلې ښکاره سي. دا تر اوسه پوري هیڅا له سینگار پرته نه وه لیدلې، په کومه ورځ چې به باران اورېده، نو دا به بیخي پوهنتون ته نه راتله، ویل داسي نه وي چې د مخ سینگار مي پاک سي او خلک مي اصلي څېره ووېني. هغې به دومره ختېه ځان جوړاوه چې پر مخ یې بیخي یو بل پوست غوړېدلی و، داسي تکه سپینه ښکار ېده لکه د گچو مجسمه.**

**یوه ورځ د زمري په نوم د هغې یوه ټولگیوال وویل چې که هر چا ورمه له سینگار پرته ولیده او ماته یې راوښووله، نو په جایزه کي یو گلکسي موبایل ورکوم. اوس چې د پوهنتون اخیري کال هم مخ پر ختمېدو و، بیا هم دا جایزه چا و نه گټله. ورمې یو عجیبه خوی درلود. خلکو به ویل چې هغه (( د برترۍ احساس)) نومي رواني ناروغي لري. هغې به تل ځان تر نورو لوړ باله، که په یوه خوی یا یوه کار کي به تر چا لوړه هم نه وه، نو دې به هڅه کوله ځان لوړ وبولي او آن داسي مصنوعي شواهد او اسناد وښیي چې گواکي دا تر نورو لوړه ده. داسي فکر یې کاوه چې هیڅا ته اړتیا نه لري، تر څو چې بیخي سخته مجبوره سوې نه وای، نو له چا څخه یې مرسته نه غوښته، خو کله چې به ډېره مجبوره سوه او له چا څخه به یې مرسته وغوښته او یا چا به په خپله خوښه مرسته ورسره وکړه، نو تر څو چې د هغه ښه یې نه وای ور ادا کړې ارامه نه کښېناسته.**

**چا چې به له ورمې سره ښه کړې ول، که څه هم احسان به**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې نه وربانديې اچاوه او د خپلو ښو پېغور به يې هم نه ورکاوه، خو دې به دا ښه د خپلو اوږو بار باله او له دې امله به ډېره ناارامه وه. که چا به ښه ورسره وکړه، نو دې به لومړۍ هڅه کوله د مقابل لوري ښه ور ادا کړي، خو که زمينه به نه وه ور ته برابره، نو پر هغه به يې بې ځايه تور پوري کاوه او داسي به يې ښووله چي دا دی که ښه دي راسره کړي وه، بد دي هم راسره وکړل، ښه دي له بدو سره ولاړل، بس دادی غاړه دي ووته. د ورمې دې ناوړه خوی هغه په ټولنه کي يوازي کړې وه. کله په خپلو کور کي له مور، ورور او خويندو سره او کله به په پوهنتون کي له ټولگيوالو سره په شخړو اخته وه، لنډه دا چي چندان دوست يې نه درلود او په يوه داسي نړۍ کي يې ژوند کا وه چي دې په خپل ځان کي په خپله جوړه کړې وه. د ورمې دوی اقتصادي وضعيت ښه نه
و، هغه د خلکو خبره يو سرپوښ وربانديې پروت و، بس گوزاره يې کېدله.
د ورمې يو ټولگيوال اکرم نومېده چي د يو لوی شتمن او سوداگر زوی و. اکرم ډېر پټ خولی او حياناکه هلک و، چندان ځوک خبر نه ول چي دوی شتمن خلک دي او له ظاهري لباس، اخلاقو او کړو وړو څخه يې هم ځوک نه پوهېدل چي اکرم دي دومره شتمن وي. اکرم د شتمنۍ او ښو اخلاقو تر څنگ ډېر لايق او د ټولگي اول نمره هم و، تل به يې هڅه کوله له ورمې سره په درسونو کي مرسته وکړي، کتابونه ور ته برابر کړي او په سيميناررونو کي مرسته ورسره وکړي، هدف يې دا و چي ورمه تر چا پاته نه سي او لږ تر لږه په درسونو کي ناکامه نه سي، همدا د ده برکت و چي ورمه په يوه مضمون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي هم ناکامه نه سوه او د پوهنتون تر اخیري سمستړ پوري راورسېده، خو وړمې هیڅ وخت هغه ته یو تش کور ودانی هم و نه وایه او تر ټولو یې له ده څخه ډېره کرکه کوله.
په اخیري سمستړ کي وړمه څو ورځي پرله پسې پوهنتون ته رانغله. ټولګیوال یې خبر سول چي هغه سخته ناروغه او په روغتون کي بستري ده، هغه و چي تر رخصت کېدو وروسته په ګډه د وړمې د پوښتني لپاره روغتون ته ورغلل، خو هلته ورته وویل سول چي هغه یې بل روغتون ته وړې ده.
ټولګیوالو اکرم ته وویل چي موږ نه پوهېږ و هغه یې کوم روغتون ته وړې ده، ستا کور د وړمې دوی په کوڅه کي دی او ته یې له پلار او ورور سره پېژني، ته یې له کورنۍ څخه معلومات واخله او بیا موږ خبر کړه. اکرم هم دا وړاندیز ومانه او د وړمې دوی کور ته ورغی.
اکرم چي د وړمې دوی د کور دروازه وروټکوله، نو پلار یې راووت. تر روغبړ وروسته اکرم غوښتل همدلته په ولاړې د وړمې د ناروغۍ حال احوال واخلي، خو د وړمې پلار ټینګار وکړ، ویل خامخا به کور ته راسره ځې او چای به راسره څښې.
هغه و چي اکرم هم دا خبره ورسره ومنله او کور ته ورسره ولاړ. کله چي اکرم د وړمې د روغتیا پوښتنه وکړه، نو د وړمې د پلار په سترګو کي اوښکي ډنډ سوې، خو ځان یې ټینګ کړ او په عادي ډول یې خبري پیل کړې، ویل ډاکټران وایي چي د وړمې دواړه پښتورګي له کاره لوېدلي او له جوړېدو وتلي دي، که یوه دانه نوی پښتورګی ورولګول سي، نو امکان لري چي ژوندۍ پاته سي او باید په یوه اوونۍ کي یې د بل پښتورګي غم وخوړل سي. بله خبره دا ده چي دا ډول عملیات په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې نه کېږي، باید پاکستان او یا هندوستان ته یې بوزئ. زما یو زوی په هندوستان کې محصل دی، هغه ویل چې د خرڅ لپاره مې پښتورګی پیدا کړی دی.

مور د پاسپورټونو او وېزو کار خلاص کړ او غوښتل مو چې هندوستان ته یې بوزو ، خو غم دا دی چې پیسې مو پیدا نه کړای سوای. د ورونو او ټولو دوستانو دروازې مې وروټکولې، خو هیچا پیسې را نه کړې. په کور کې چې مو څه سره زر درلودل، هغه مو خرڅ کړل او هغه پیسې د ورمې په دواوو کې ولاړې، اوس دا یو د پلار میراثي کور راپاته دی چې څو ورونه او خویندي په شریکان یو، د مشترک کور خرڅول ډېر وخت نیسي. باید اول ووېشل سي او بیا خرڅ کړل سي.

په دې وخت کې د ورمې د پلار ستونی له غریوه ډک سو، په سترګو کې یې اوښکي وځلېدې، په ریږدېدلي اواز یې وویل: اوس نو له خدای پر ته بله اسره نه لرو. ورمه په دولتي روغتون کې بستر ده او مشر ورور یې سر ته ناست دی، زه همدا اوس ځني راغلم. زویه ورمه اوس هغه ورمه نه ده، لکه د لسو کالو ناروغه چې وي، له پېژندلو وتلې ده. هر وار چې مي زوی له روغتون څخه زنګ راووهي زړه مي تر تلو شیوه سي، زه چې وایم اوس به راته ووایي چې ورمه مړه سوه.

اکرم د رخصت کېدو په وخت کې د ورمې پلار ته وویل: بابا هیڅ اندېښنه مه کوه. پیسې هیڅ ارزښت نه لري، د انسان ژوند ډېر مهم دی، زه همدا اوس ځم پیسې در ته راوړم، ورمه هندوستان ته بوزه. تر څو چې تا پیسې پیدا کړي او په خپله خوښه دي نه وي راکړي، له ما او تا پر ته به څوک خبر هم نه سي چې ما پیسې په پور درکړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرم په منډه د ورمې پلار ته پیسې راوړې او ځنې رخصت سو. د ورمې پلار په کوڅه کې تر هغه مهاله په اکرم پسې کتل چې هغه له سترګو څخه پناه کېده.
ورمه یې هندوستان ته بوتله او په بریالیتوب سره یې درملنه وسوه. اوس هغه بیرته خپل عادي حالت ته راوګرځېده او د اکرم په مرسته د پوهنتون ازموینې هم بریالۍ تېرې سوې.
اوس د ورمې دوی په کور کې هره ورځ د اکرم نوم په ډېر درناوي سره یادېږي، ان دا چې د نجات فرشته بلل کېږي، خو ورمه چې هر وار د اکرم نوم اوري، نو تندی یې تریو سي، ان دا چې له مجلس څخه ولاړه سي او په دې اړه هیڅ تبصره نه کوي، د اکرم نوم په ښو یادول دومره بد ورباندې لګېږي لکه ډېر بد چې یې ورسره کړي وي.
یوه ورځ د ورمې مور د ورمې پلار ته وویل چې سړیه اکرم زمونږ سره ډېر ښه وکړل، راسه یوه ورځ به یې مېلمانه کړو، که نور ښه یې نه سو ور ادا کولای په دې ډول خو به یې لږ تر لږ یو څه احترام وسي. زه چې د اکرم ښو اخلاقو ته ګورم ډېره ښه کورنۍ را معلومېږي، په دې ارزي چې تګ راتګ ورسره ولرو، دا مېلمستیا به د تګ راتګ لپاره یوه ښه پلمه سي. د ورمې پلار هم دا خبره ومنله، ویل سمه ده، خو ورمه نابېره د مور په خبرو کې ورولوېده، ویل موري مېلمستیا ته څه ضرورت دی، پیسې یې په پور راکړي دي، بیرته به یې ورکړو. د ورمې مور سر وښوراوه او په تریو تندي یې وویل: لوري ته هم عجیبه انسانه یې، هیڅ وخت د چا ښه نه درباندې معلومېږي، له همدې وجې تل یوازې پاته سوې یې، هیڅ وخت به دوست پیدا نه کړې. کله چې د اکرم دوی کورنۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورېمې دوی کره راغله، نو ورېمې ځان پر ناروغۍ واچاوه او په خپله خونه کې پرته وه.

څو میاشتې وروسته د ورېمې پلار کور خرڅ کړ، پیسې یې له ورونو سره وویشلې او خپله ونډه پیسې یې اکرم ته ورورکړې، خو اکرم پیسې و نه منلې، ویل تاسې اوس په کرایي کور کې اوسېږئ، د کور کرایه ورکول هم لوی مصرف دی، زه اوس دې پیسو ته اړتیا نه لرم، کله چې ستاسې یو کار جوړ سو بیا به یې سره ګورو. په دې ډول اکرم نور هم د یو سپېڅلي او زړه سواند ځوان په نوم د ورېمې دوی د کورنۍ په زړونو کې ځای ونیو.

د اکرم احسان د ورېمې ذهن سخت ناارامه کړی و او هره ورځ یې ځوروله، لکه پر اوږو چې یې یو لوی غر پروت وي، په ټول ژوند کې یې دا لومړی وار و چې یو څوک تر دې لوړ و، دومره ښه یې ورسره کړي وه چې دې په هیڅ ډول نه سوای ور ادا کولای. ورېمې دومره توان هم نه درلود چې له هغه سره دې ته ورته ښه وکړي، خو ارامه هم نه کښېناسته، تل به یې له ځانه سره نقشې جوړولې چې څنګه له خپلو اوږو څخه د اکرم د احسان بار لیرې کړي.

څو ورځې کېدې چې اکرم د یو تجارتي کار لپاره چین ته تللی و. د ورېمې پلار او مشر ورور خبر ول، خو ورېمه نه وه خبره. د شپې یوه بجه وه چې بر ېښنا ولاړه، په کور او شاوخوا کې توره تیاره خپره سوه. دا چې نیمه شپه او ټول خلک ویده ول، نو رڼا ته اړتیا نه لیدل کېده، نه چا شمع بله کړه او نه هم څراغ. یو ساعت وروسته ورېمې په زوره چیغې کړې: پلاره! پلاره! مور! لالا! هلئ راسئ! د خدای پر پار مرسته وکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ورېمې په چيغو لومړۍ د هغې مشر ورور سليم خبر سو، سمدلاسه د ورېمې خوني ته ورغی، ګوري چې د هغې ګرېوان څيري او د سر وېښتان يې ګډوډ سوي دي. په دې وخت کي د ورېمې مور او پلار هم راغلل، ويل څه خبره ده؟ ورېمې ويل زما خوني ته يو هلک راغلی و، غوښتل يې ماته بې عزتي راواړوي، خو ما چيغي کړې، هلک ووېرېد او تر کړکۍ يې ځان دباندي واچاوه، دا دی ورته وګورئ، د کړکۍ جالۍ څيري سوې ده. د ورېمې پلار او مور وويل هلک څوک و، و دي نه پېژاند؟

- که رشتيا ووايم تاسي به باور و نه کړئ
- ولي باور نه کوو، ژر راته ووايه، څوک و؟
- هغه هلک و چي تاسي يې ملايکه بولئ
- کومه ملايکه؟ سم ووايه !
- اکرم يادوم.

د دې خبري په اورېدو د ټولو خولې وازي پاته سوې، ويل اکرم؟ د ورېمې مور وويل: داسي خو هيڅ امکان نه لري، اکرم څومره حياناکه هلک دی او بل نو اکرم دې کار ته څه ضرورت لري؟ که يې ته خوښه وای، نو مرکه به يې رالېږلې وای. لوري ناحقه پر يو بې ګناه انسان تور مه لګوه بل څوک به دي ليدلی وي، په دې توره شپه کي ته څه پوه سوې چي دا اکرم دی؟

ورېمې په ژړا وويل: موري ته اکرم نه پېژنې، هغه په ظاهره ډېر ښه سړی معلومېږي، خو په حقيقت کي ډېر ناولی انسان دی، زه يې ډېر ښه پېژنم، ما ته يې څو واره په پوهنتون کي هم بدي بدي خبري کړي دي، خو ما هغه وخت تاسي ته نه ويل، ما ويل که درته ووايم تاسي به مي له پوهنتون څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راوګرځوئ. له دې خبرې سره سم ټول له خونې ووتل او ورمه یوازې په خونه کې پاته سوه.**
**ورمې د خونې دروازه وتړله، پر شونډو یې نرۍ مسکا خپره سوه، له ځان سره یې په فاتحانه انداز وویل: اکرمه نور مې ستا له احسان څخه اوږې سپکې سوې، اوس به خلک نه وایي چې اکرم له دوی سره دومره ښه وکړل، خلک څه خبر دي چې ما په تا ناحقه تور پوري کړی دی.**
**سبا سهار پولیسو ورمه حوزې ته بوتله. له هغه ځایه یې دوسیه څارنوالۍ او بیا محکمې ته ولاړه. یوه میاشت وروسته محکمې ورمه په دې جرم په درې کاله بند محکومه کړه چې پر اکرم یې ناحقه تور لګولی او د هغه شخصیت ته یې زیان واړولی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پردې تر شا

د کابل په خوشال خان مېنه کې مې ټکسي روان کړی و چې یوه سپین ږیري سړي لاس راکړ. ویل له دې ځایه خیرخانې ته ځم، هلته له یو چا سره لږ کار لرم، څه ډالر هم ماتوم او بیا راځو. اندېښنه مه کوه هلته چې ډېر وځنډېږو ښایي لس دقیقې به وي، زیات نه ځنډېږو. ما هم ورسره ومنله او د تګ او راتګ کرایه مو څلور سوه افغانۍ وټاکله، هغه و چې دی د موټر د شا په سیټ کې کښېناست او حرکت مو وکړ.

سپین ږیري له جېب څخه اوږدې زیتوني تسبیح راوایستې، ویل زما نوم سید جواد آغا دی، د قیمتي ډبرو تجارت کوم، یو دفتر په کابل او بل په دوبۍ کې لرم. الحمدلله خدای (ج) ډېري پیسې راکړي دي. بیا یې راته وویل: استاده سواد لرې؟

- هو لرم یې، دوولسم ټولګی مې لوستی دی
- د قرآنکریم تلاوت کولای سې؟
- هو بیخي یې کولای سم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اغا صاحب پسې زیاته کړه: استاده لکه څنګه چې انسان زړه لري، دغسې قرآنکریم هم زړه لري چې هغه د یاسین شریف سورت دی. ویل هڅه کوه چې تل په اوداسه وګرځې، هم به دې صحت ښه وي او بل لمونځ نه در څخه قضا کېږي، کله چې د لمانځه وخت راغی ته به مخکې لا اودس لرې، سمدلاسه یو ګوښه ځای موټر ودروه او لمونځ دې وکړه. بل دا چې د کابل سړکونه خو اکثره وخت بند وي، آن دا چې کله کله خو یو ساعت هم لاري بندې وي او بل نو همېښه سپرلي هم نه وي، نو چې هسې یو ځای دې موټر درولی وي او حرامه موسیقي اورې، ښه دی چې همدا سورت یاسین تلاوت کړې. زه باور لرم چې هره ورځ خامخا دومره وخت پیداکولای سې چې لږ تر لږه یو وار سورت یاسین تلاوت کړې. کله چې دې ډېر تلاوت کړ اخیر به دې بیخي یاد سي، بیا نو اوداسه او لوستلو ته هم اړتیا نسته، هم به موټر چلوې او هم به د خدای کلام تلاوت کوې.**

**که له سورت یاسین څخه ستړی سوې، نو د خدای (ج) ذِکر کوه، (الله) وایه. د الله (ج) نوم ویل ډېر اسانه کار دی، سړی هیڅ نه ستړی کوي. که ذکر دې عادت سو بیا به داسې وخت هم راسي چې ته به ویده یې، خو په خوله به الله، الله وایې، تر دې به نو بل نېکمرغه انسان چېري وي چې په خوب کې هم د الله (ج) نوم یادوي. خدای (ج) به دې له هري بلا څخه وساتي او په روزۍ کې به دې هم برکت واچوي. که زما منې دا کار یو وار تجربه کړه، تجربه کول یې تاوان نه درته کوي. له دې سره سم یې یو ټوک سورت یاسین راکړ. ما هم ځنې واخیست، ښکل مې کړ او بیا مې مخ ته په یو لوړ ځای کې کښېښود.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې مې مغزی د شا سیټ ته ورکوږ کړ او اغا صاحب ته مې وکتل. تکه سپینه پاکه اوږده مبارکه ږیره، ورین تندی، د خنداڼکه خوله، دوه وله نازکه سپینه لنګوټه او ښایسته سور او سپین مخ، له مخ څخه یې نور پورته کېده. اغا صاحب مې پر زړه لکه فرشته ولګېد، سترګې مې ورباندې خوږې سوې، ګرسره مې زړه نه غوښته چې مخ بلې خوا ته څنې واړوم، ما ویل چې ټوله ورځ مې یې نوراني مخ ته کتلای، خو څه مې کړې وای، موټر مې چلاوه، مجبور وم لارې ته وګورم، خو بیا به مې هم هره یوه دقیقه وروسته یو وار ورته کتل. خیرخانې ته لا نه وم رسېدلې چې اغا صاحب راته وویل: ځوانه دغه پنځه سوه افغانۍ واخله، که تکلیف نه وي له دغې نانوايي څخه پنځوس ډوډۍ راواخله، په مخکې تم ځای کې ډېرې کونډې او یتیمان ناست دي، که د یو څو نسونه هم ورماړه کړم غنیمت دی، لس ډوډۍ به تاته هم درکړم، خو ګوره چې ژر راسه، هم پر ما او هم پر تا ناوخته کېږي. ما ویل سمه ده، موټر مې چالان پر ېښود او نانوايي ته ورغلم. نانوای لا ډوډۍ نه وې راکړې چې د خپل موټر د ټایرونو چیغکې مې تر غوږ سو، کله چې مې موټر ته وکتل، نو اغا صاحب جلو ته ناست دی، د سترګو په رپ کې یې موټر راڅخه وتښتاوه.

اوس اکثره وخت له ځانه سره وایم چې اغا صاحب که څه هم په عمل کې غل و، خو خبرې یې ښې وې. موږ تر نورو خلکو نېکمرغه یو. غله مو که څه هم په عمل کې غلا کوي، خو خبرې یې ډېرې علمي دي، داسې غله هم لرو چې د پوهنتونونو استادان او سیاسي رهبران دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پیسو نشه

- د خدای پر پار څه گناه مي کړې ده چي طلاقوې مي؟
- هیڅ گناه دي نه ده کړې، بس هسي مي بد درځخه راځي، له کوره مي وزه
- ولي داسي کوې ظالمه ! خلک به وایي چي گواکي ما کوم بد کار کړی دی
- درته ومي ویل چي له کوره وزه راباندي طلاقه یې
- ستا په سینه کي زړه پروت دی او که کاڼی؟ هغه وخت چي ته خرکار وې د ماښام ډوډۍ دي نه درلوده، ما لوږي، تندي او سترړیاوي درسره وزغملې، خو نن چي تا پیسې پیدا کړې بله ښځه دي وکړه ما ایله کوې؟ له خدایه نه وېرېږې؟
- نور دي خوله بنده که، که نه خوله دي درماتوم او سر دي هم درخریم، ژر له کوره وزه.

بي بي تاجي خپل تور پوړنی پر سر کړ او د کور د دروازې پر خوا روانه سوه، څو گامه چي ولاړه، نو خپلو دوو کوچنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زامنو ته یې تر شا وکتل، هغوی په چیغو چیغو ژړل، د هغوی په لیدو ځای پر ځای ودرېده، لکه په مجسمه چې بدله سوې وي، نه شا ته راګرځېدای سوای او نه مخ ته تلای سوای. په دې وخت کې تورجان د سر تر کوڅې ونیوله، ویل څه شا ته ګورې، ځه خپل حرموني دي هم درسره واخله او خپل دا مردار مخ دي ورک که. بي بي تاجي یو زوی په بغل کې او بل یې تر لاس ونیو له کوره ووته، څو ګامه چې به ولاړه، نو شا ته به یې وکتله.

تورجان که څه هم څلوېښت کلن و، خو ډېر ځوان ایسېده. غټې سترګې، جګه ونه او لوی هډوور اندامونه یې درلودل. په کار کې دومره تکړه و چې ټوله ورځ یې کار کولای هم یې سا نه سوځېده. ده دوه خرونه درلودل. کله به یې په کلي کې له کورونو څخه باغونو ته حیواني سره وړله او کله به یې له باغونو څخه سړک ته انګور، انار، مڼې او نورې مېوې وړلې. بیا یې له کلي څخه ښار ته مېوې او سبزیجات وړل او هلته به یې پر دوکاندارانو خرڅول. په دې کار کې یې ښه پیسې پیدا کړې او بیا یې موټر رانیو.

اوس نو هغه خرکار تورجان نه و، دومره مغرور سوی و چې د اسمان و کنګرو ته یې کتل. اوس کلي خوند نه ورکاوه او ښار ته یې کډه یووړل، خو کله کله به د مېلې لپاره کلي ته م راته. په دې وخت کې د ثور اړودوړ جوړ سو او تر هغه وروسته افغانستان ته روسان راغلل. یوه ورځ د تورجان موټر کابل ته په لاره کې پر ماین برابر او ټوټه ټوټه سو، د دې تر څنګ یې یو چا ته څه پیسې په پور ورکړې وې، هغه هم ایران ته ځني وتښتېد او تر پایه یې پته نه سوه معلومه، په دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تورجان سرمایه ولاړه او دی تش نغري ته کښېناست. یو څه وخت په ښار کي په کرایي کور کي اوسېده، اخیر له مجبوریه بیرته په تشو لاسونو کلي ته راغی ، خو اوس یې په متو کي هغه زور او شیمه نه وه پاته چي کار وکړي، سپین ږیری او کمزوروری سوی و، اوس خلکو تورجان اکا باله، د نري رنځ ناروغي هم ورته پیدا سوې وه، داسي ډنګر سوی و چي پوستکی یې په هډوکو پوري کلک مښتی و. اوس دومره بېوزله سوی و چي ان چا په پور هم پیسې نه ورکولې. ځیني تربورونو به یې کله کله د خلکو د پېغورونو له امله لاس ورته ونیو، د خیرات او زکات په نوم به یې څه پیسې ورکړې، خو په هغو پیسو نه مړ کېده او نه رغېده. کلیوالو کرکه ځني کوله، ټولو به ویل چي د خپلي ښځي او کوچنیو معصومو اولادونو ازار وواهه. مېرمن بېچاره یې بې ګناه طلاقه کړه او بل نو اولادونه یې هم د هغې بېچاره ګۍ پر اوږو وربار کړل، ځینو خلکو خو دومره کرکه ځني کوله چي آن تش سلام یې هم نه وراچاوه.

تورجان اکا له خپلي دوهمي ښځي څخه اولاد نه درلود، څه وخت وروسته هغه هم په نري رنځ اخته او مړه سوه، اوس نو تورجان  اکا نور هم بېچاره او ناوسه سو. کله به د یوه او کله د بل چا کره اوسېده. وروسته یې د یوه سوالګر په بڼه غوره کړه، کالي یې شکېدلي، سر او ږیره یې ببره او سپېرو پر سر اخیستي و، لکه ملنګ کله کله به یې د یوه کور دروازه وروټکوله، له چا به یې ډوډۍ او له چا به یې یوه جوړه زاړه کالي غوښتل. تر دې وروسته په کلي کي کم لیدل کېده، کله چي به ډېر وږی سو، نو له کوره به راووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس يې له سر څخه د پيسو نشه ليري سوې او په سد کې راغلی و. څو واره يې له خپلو زامنو سره خبري وکړې، له زامنو او پخوانۍ مېرمني څخه يې بخښنه وغوښته، ويل خير دی خدمت مي مه کوئ، يوازي مي په کور کي پر يږدئ، خو هغوی و نه منله.

يوه ورځ د تورجان اکا مشر زوی بشير په منډه کور ته راغی، کلاشيکوف يې راواخيست، ويل تربور پېغور راکړ، ويل ته هم ځان ته نارينه وايې، پلار دي په کلي کي سوال کوې. اول ورځم پلار وژنم او بيا به يې پر ارامه له تربوره سره گورم. هغه ورځ چي مور يې له کوره وشړلو داسي مي په ياد ده لکه دا نن چي وي، څو واره مي نور هم نيت وکړ چي ويې وژنم، بير ته به مي زړه پر وسوځېد، خو نن يې خامخا وژنم. په دې وخت کي يې مور مخ ته ودرېده، له قهر څخه يې سترگي تکي سرې وې، ويل نه زويه پلار ته دي دومره اسانه سزا مه ورکوه، دا چي ته يې وژنې په حقيقت کي مرسته ورسره کوې، هغه به په وژلو سره ډېر ارام سي، په اخيرت کي خو به خامخا خدای حساب وکتاب ورسره وکړي، خو بايد په دې دنيا کي هم ښه ورځ و نه ويني. زه کله کله په دروازه کي تر چولو ور ته گورم، ما ته رامعلومېږي چي هغه هره ورځ مري او بيا راژوندی کېږي، پر يږده چي په همدې خوارۍ او ذلت کي مړ سي. زوی يې هم د مور خبره ومنله او له دې کار څخه لاس پر سر سو.

يوه ورځ د تورجان اکا گاونډي پسه خيرات کړی و، د يوه کوچني په لاس يې لږ غوښه ورکړه چي تورجان اکا ته يې وروړي، خو کوچنی چي د هغوی کره ورغی، نو نابېره يې چيغي کړې، ويل مړی ! مړی ! هلئ راسئ تورجان اکا مړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سوی دی. د ګاونډي هلک په چیغو یې مور او وروسته نور خلک خبر سول، په یوه شیبه کې ډله ډله کلیوال د تورجان اکا کره ورغلل، ګوري چې هغه مړ سوی او نیم چغالانو او پیشیانو خوړلی دی. د هغه مړي داسې بوی کاوه لکه یوه اوونۍ مخکې چې مړ سوی وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رڼاګانو غلا

- لالا بس دی په ګډه مو تر ډېره وخته ژوند سره تېر کړ، نور به وېش سره وکړو. که یوه لوېشت ځمکه رارسېږي او که سل جریبه، هر ورور به په خپله خوښه ژوند وکو
- څه شی ! وېش؟ ته بیا ووایه !
- ما ویل جایداد به سره ووېشو
- ښه سلیم اوس دومره سو چې وایې جایداد به سره ووېشو ها؟ ولې څه خبره ده؟ وړی سوی یې او که دې جېب تش پاته سوی دی؟
- لالا هغه خبره نه ده، هره ورځ د ښځو او کوچنیانو جنګونو مې ماغزه راوخوړل، نور یې نه سم زغملای، سبا چې په خوابدۍ سره جلا کېږو، ښه دی چې اوس په خندا سره جلا سو
- بس بس له مخه مې لیري کېږه چې اوس به مې له لاسه یو خطا وخېژي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حاجي گل احمد خان د مرگ لس کاله کېده او پر مېنه يې دوه ځوانان زامن پاته ول چې مشر يې حاجي غفار او کشر يې سليم نومېده. حاجي گل احمد خان د نيکونو نيکونو شتمن سړی و او په سلگونه جريبه ځمکه ځني پاته سول.**

**د هغه مشر زوی حاجي غفار خورا بدخويه او قهرجن سړی و. تر پلار ده غټه ډنگوله. سليم که څه هم ځوان او د اولادو خاوند و، خو ده به داسي وهل ټکول ورکول لکه مريی چي يې وي. سليم له حاجي غفار څخه تر پزي راغلی و او غوښتل يې له هغه سره د پلار جايداد وو ېشي، خو زړه يې نه سوای کولای، اخير ډېر تنگ سو، سل زړونه يې سره يو کړل او دا خبره يې وريادە کړه.**

**تر دې خبري درې ورځې وروسته سليم تری تم سو. خلکو هري خوا ته پسي وکتل، خو پيدا يې نه کړ، هيڅوک نه پوهېدل چي هغه مړ دی او که ژوندی.**

**يوه ورځ سهار مهال کليوال د مسجد مخ ته ناست ول چې يو بزگر په منډه راغی، ويل سليم مو پيدا کړ. له دې خبري سره سم يوه ډله کليوال د بزگر مخ ته ورولاړ سول، تر يو څو لنډو خبرو وروسته په گډه کلي ته نژدې د زاړه کاريز خوا ته په منډه روان سول. يو ساعت وروسته يې سليم پر کټ را اخيستی او د کلاپه غولي کي يې کښېښود.**

**د سليم په غاړه کي نايلوني پړی تړلی او غاړه يې تکه شنه وه. بزگر ويل چي د زاړه کاريز په سپرغۍ (سوبه) کي مو پيدا کړ. د سليم مېرمني گلالۍ پر سر خاوري باد کړې او بيا پر سليم وغوړېده، ويل دغه مي پر اروا اورېده، زه پوهېدم چي دغسي به درسره کېږي. اې زما خدايه زما خو مېنه سپېره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه.

په دې وخت کې حاجي غفار سترګي پر راغتې کړې، ویل بې شرمې دا ټول ستا له لاسه، زما د ګل غوندې نازک ورور دې په بلا وخوړ اوس لا ژاړې هم ته ! له دې سره سم یې هغه په درد تر لاس ونیوله او د پروړو خونې ته یې بوتله.

د ګلالۍ چیغې نورې هم لوړې سوې، خو حاجي غفار ورته وویل چې مرداري پر خوله دې لاس ونیسه، ته خبره نه یې تر دې هم لوی غم راروان دی، ما ته غوږ سه چې څه در ته وایم.

د ګلالۍ سترګي رډې رډې راوختې، ژړا یې په سلګیو واوښته او له مجبوریته یې غوږ ونیو. حاجي غفار ولاړ سو لومړی یې د خونې کړکۍ وڅارله او بیا یې په ټیټ اواز وویل: اوس په یو څو دقیقو کې پولیس راځي، هغوی ته راپور رسېدلی چې سلیم تا خپله وژلی دی. ته به په زندان کې ناسته یې او لادونه به دې پر سپېره داګ پاته وي، د ټولې کورنۍ عزت به مو له خاورو سره خاورې سي. سلیم خو هسې هم شهید سو او بیرته نه راژوندی کېږي، باید اوس په دې اړه فکر وکړو چې څنګه خپل عزت خوندې کړو. زما خو داسې خوښه ده چې کله ته پولیسو بوتلې، نو ته به ورته ووایې چې سلیم ما وژلی دی، باید دلیل یې هم ورته ووایې. ورته ووایه چې سلیم مې له لومړۍ ورځې خوښ نه و، پلار په زوره ورکړم، زما اصلا د نوې کلې جانان خوښ و، له سلیم سره مې څلور کاله له مجبوریته تېر کړل، نور نو ګوزاره نه ورسره کېده، جانان ته مې وویل چې سلیم مړ کړه تر هغه وروسته به زه او ته واده سره وکړو،هغه و چې جانان هم سلیم مړ کړ، نور نه یم خبره چې جانان به اوس چېرې وي، خو ما ته یې یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره وویل چې هغه مې په زرغونه نایلوني پړې زندۍ کړ او په زاړه کاریز کې مې واچاوه. جانان هسې هم په طالبانو کې دی، د حکومت په لاس نه ورځي چې دا خبره ورسره سپینه کړي. د شهید ورور زه یم، محکمه زما سره مشوره کوي چې ګلالۍ بخښې که نه؟ زه به دې وبخښم او د حکومت جنجال به خلاص سي، تر دې وروسته به دې د مېړه حق جایداد در جلا کړم، بیا ستا خوښه ده که دې په خپله خوښه بل مېړه کاوه او که دې له همدې دوو زامنو سره سر سپیناوه.
په دې خبره د ګلالۍ سترګې رډې رډې راوختې، سترګې یې لکه د وینو پیالې تکې سرې سوې او پر حاجي غفار یې ورحمله کړه، ویل ظالمه هم دې مېړه را مړ کړ او هم یې د وژلو تور په ما پورې کوې؟ له خدایه هیڅ نه وېرېږې؟ حاجي غفار د هغې پر خوله لاس ور ونیو، ویل لېونتوب مه کوه، مېړه خو دې هسې هم ولاړ، اوس په خپل لاس د اولادونو او ځان ژوند مه تباه کوه، بله چاره نه لرې. که ته په خپله خوښه پولیسو ته اقرار و نه کړې موږ خپله هم شاهدي دربانديي ادا کوو، یوازې زه نه یم، دوه نور د درواغو شاهدان مې هم پیدا کړي دي. که موږ شاهدي دربانديي ادا کړه، نو سزا دې اعدام دی او که اعدام نه سې، نو لس پنځلس کاله بندي کېږې. ته زموږ د کور ناموس یې، موږ نه غواړو چې زموږ ناموس دې زندان ووینې او زموږ د کورنۍ شمله دې کښته سي، په دې وخت کې د ګلالۍ تر خوله څو لویې سلګۍ ووتې او د سر په اشاره یې (هو) وویل.
یو ساعت وروسته د کلا مخ ته د پولیسو رینجر موټر ودرېد او ګلالۍ یې بوتله. ګلالۍ د تحقیق په جریان کې پولیسو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کټ مټ هغه خبري وکړې چي حاجي غفار ورته کړي وې.**
**د ګلالۍ دوسیه محکمې ته ولاړه او دوې میاشتي وروسته محکمې هغه د سلیم د قتل په جرم پنځلس کاله زنداني کړه.**
**هغه څه چي ګلالۍ د تحقیق پر مهال پولیسو ته ویلي ول د ټولو کلیوالو تر غوږونو ورسېده. هر کلیوال به ویل چي ګلالۍ لونډه درلود او خپل مېړه یې مړ کړ. څو ورځې وروسته حاجي غفار د ګلالۍ دوه کوچني زامن له کوره وشړل، ویل وزئ حرمنو ! مور مو په خپله اقرار وکړ چي له جانان سره یې تار درلود، څه معلومه ده چي تاسي به زما د ورور له نسل څخه یاست که د جانان؟**
**د ګلالۍ دوه ماشومان چي یو شپږ کلن او بل اووه کلن و، لومړی د ماما کره ولاړل او له هغه ځایه یې په زندان کي د مور غېږي ته پناه یووړل.**
**د دې پېښي لس کاله کېږي. د ګلالۍ دوه کوچني زامن په زندان کي په نري رنځ اخته او بیا یو په بل پسي مړه سول.**
**حاجي غفار له کلي څخه کابل ته کډه سو او هلته یې یو ډېر ښایسته کور رانیو. دوو زامنو یې په هندوستان کي لوړي زده کړي بشپړي کړې او سږ کال راغلل. پرون یې د کابل په یوه ډېر مجلل هوټل کي واده و او په سلګونه مېلمانه یې رابللي ول.**
**حاجي غفار خپل کور او اولادونو ته رڼا راوړل، خو دا رڼا یې د ورور له کوره غلا کړل، هغه د خپل ورور کور ته اور واچاوه او بیا یې د دې اور په رڼا خپل کور روښانه کړ. نن د هغه په کور کي ډېره لګېږي، خو دا ډېره سره رڼا لري، کټ مټ لکه د وینو په شان سره رڼا ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میراث مړی

د شفیقې د واده لس کاله کېده، خو اولاد یې نه درلود. مور او خواښې یې ډېرو ډاکټرانو، طبیبانو او پیرانو ته بوتله، خو هیڅ ګټه یې و نه کړه. د واده په لومړیو کلونو کې هغې په دې اړه دومره اند ېښنه نه کوله، ویل تر اوسه لا زه او مېړه مې ځوانان یو، خدای مهربانه دی وروسته به اولاد راکړي. شفیقه پر خپل مېړه جمیل خورا ګرانه وه. د جمیل هم اولاد ته زړه کېده، خو په ظاهره یې څه نه ویل، تل به یې شفیقې ته د زړه ډاډ ورکاوه، ویل دومره ژر کوچنیان څه کوو بابا، یو څو کاله به ارام ژوند وکړو بیا به یې وروسته ګورو، آن دا چې د دې په مخ کې به یې ور ېرونه، خوریان او نور ماشومان په غېږ کې نه اخیستل، ویل داسې نه وي د دې په زړه کې وروګرځي چې زه اولاد نه لرم او ناهیلې سي.

یوه ورځ د شفیقې د سرو زرو ګوتمۍ ورکه سوه، هر څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يې پسې وکتل پيدا يې نه کړه، په ډېر احتياط يې خپلې يور ته ووېل چې تا زما گوتمۍ نه ده ليدلې؟**

**- نه زه ستا گوتمۍ څه کوم، ولې زه غله درته معلومه سومه چې پوښتنه دې راڅخه وکړه؟**

**- توبه خدايه، دا اوس ته څه وايې؟ ما کله ووېل چې تا غلا کړې ده، ما وېل په همدغه کور کې راڅخه ورکه سوې ده، کېدای سي ته يې په پيدا کولو کې مرسته راسره وکړې**

**- په اصل کې دې دغه مطلب و چې گوتمۍ دې غلا کړې ده، د مرستې خبره دې هسې پلمه کړه**

**- يووو خورې څومره تورښتې يې، ما کله ووېل چې تا غلا کړې ده**

**- تورښتې ته يې که زه؟ د غلا تور ته په خلکو پورې کوې او تورښتې ما بولې؟ خير دی يوه گوتمۍ څه شی ده، مېړه خو دې لږ دنيا نه لري، بله گوتمۍ به در رانيسي، دا دومره پيسې څه کوئ، چا ته يې ډېروئ؟**

**- مطلب دې څه دی چې چا ته يې ډېروي؟**

**- ما وېل دا دومره پيسې خو به اخيرت ته نه درسره وړئ، اولاد هم نه لرئ چې دنيا به مو هغوی ته ورپاته سي، ښه به دا وي چې اوس يې لا په ځان مصرف کړئ**

**- خدای دې دا سپېره خوله ماته کړه ولې به ميراث کېږو؟ مېړه مې شکر ځوان دی، بل واده به ور وکړم، خدای به اولاد ورکړي، ببځايه ځان مه خوشاله کوه، ولاکه دې زموږ په ميراث ارمان راڅخه وخېژي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې خبرې سره سم د شفیقې ستونی له غریوه ډک سو، سترګې یې له اوښکو ډکې سوې او خپلې خونې ته یې منډه کړه. ماښام چې جمیل کور ته راغی، نو شفیقه یې په ژړا په غاړه کې ورولوېده، ویل بس دی نور د بې اولادۍ پېغورونه نه سم زغملای، ته به خامخا بل واده کوې چې خدای اولاد درکړي. جمیل شفیقه په مهربانۍ په زړه پوري ونیوله، ویل خدای دې یې خیر کړي زړګیه، څه خبره ده، بیا چا څه در ته ویلي دي؟ د شفیقې خبرې سلګۍ سوې، خو وروسته یې په ډېر تکلیف وویل : نن دې ورېنداري راته وویل چې ته اولاد نه لرې، دا دومره ډېري پیسې څه کوې، میراث به مو موږ ته راپاته وي.

جمیل چې شفیقې ته هر څومره د زړه ډاډ ورکاوه خو هغې نه مانه، ویل ته به خامخا بل واده کوې.  اخیر جمیل ویل سمه ده، خو یو شرط لرم، هغه دا چې نجلۍ به ته خپله راته خوښوې، شفیقې ویل سمه ده.

د جمیل مور مخکې لا غوښتل هغه ته بل واده وروکړي، خو جمیل اجازه نه ورکوله، اوس چې په دې اړه شفیقې او جمیل سلا یوه کړې، نو دا هم ډېره خوشاله سوه. شفیقې چې به هر ځای د کومې ښایستې نجلۍ نوم واورېد، نو خواښې ته به یې هغه کور وروښود. داسې ورځ به نه وه چې دا او خواښې به یې یو ځای په مرکه نه وې تللي.

جمیل که څه هم له شفیقې سره د بل واده خبره منلې وه، خو په حقیقت کې یې زړه نه غوښته. شفیقې او مور چې به یې هره نجلۍ وریاده کړه، نو ده به یو عیب پکښې پیدا کړ، ویل نه دا نجلۍ مه راغواړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ د جمیل په زړه کي وروګرځېده چي شفیقه ډېرو ډاکټرانو او طبیبانو ته ولاړه، خو ګټه یې و نه کړه، داسي نه وي چي عیب په ما کي وي، هغه و چي یوه لابراتوار ته ولاړ او هلته یې معاینات وکړل. لابراتوار والا ور ته وویل چي د نتیجې لپاره سبا راسه. سبا چي ورغی او نتیجه یې راواخیسته، نو کتلې یې لا نه وه چي خپل یو اندېوال سعید په مخه ورغی. له سعید سره یوه نجلۍ هم ملګرې وه. ویل دا مي ټولګیواله ده، اوس غواړو واده سره وکړو. د دواړو مور او پلار هم راضي دي، خو مور د خپلي ښې راتلونکي لپاره دلته راغلو چي صحي معاینات وکړو. مور ویل کېدای سي یوه خوا د بې اولادۍ ستونزه او یا میراثي ناروغي ولري، سبا چي پښېمانه کېږو او تندی ټکوو ښه ده چي اوس لا پر خپل واده غور وکړو. تر دې وروسته جمیل له سعید سره خدای پاماني وکړه او د کور خوا ته روان سو.

جمیل لا موټر ته نه و ختلی چي د معایناتو نتیجه یې وکتله. په هغه کي لیکلي وه چي جمیل د تل لپاره نه سي پلار کېدای. په دې وخت کي د جمیل بڼه والوته، خو ډېر ژر یې یوه خبره په زړه کي وروګرځېده او په منډه موټر ته وخوت. موټر یې په دومره چټکۍ روان کړی و تا چي ویل نشه دی، نه یې لوړه او نه یې ژوره کتله، په څو دقیقو کي کور ته ورسېد، ګوري چي له کور څخه د دایرو، چکچکو او خنداګانو اوازونه راځي.

کله چي کور ته ورغی، نو شفیقه یې په خندا او نڅا مخ ته راغله، ویل جمیل جانه مبارک دي سه، کوزده مي دروکړه، داسي ښایسته نجلۍ مي دروغوښته چي په ټول ښار کي به نه وي. زما او ستا دښمنان به دا ارمان ګور ته یوسي چي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**به میراث کېږي. یوازي یو واده نه، که خدای مه کړه له دې ښځې څخه دي اولاد پیدا نه کړ، بل واده درکوم، بل درکوم.**
**شفیقه ډېره خوشاله وه، له خندا یې خوله نه سره ټولېده، خو د جمیل بڼه ژیړه واوښته، لکه پر مخ چې دي کورکمن ورشیندلي وي، په کور کي یې شاوخوا وکتل. هغه صحنه یې سترګو ته ودرېده چې پر مېنه به یې وارث نه وي پاته او مېنه به یې سپېره وي. لکه ورېنداري چې یې پېغور ورکړی و، دی به رشتیا هم میراث کېږي. له شرمه یې کښته وکته، په حقیقت کي یې خپل ګرېوان ته سر ورټیټ کړ او اعتراف یې وکړ: د ده د جهالت په وجه د شفیقې تر څنګ یوه بله معصومه نجلۍ هم میراث سوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوړني درناوی

افغانستان ته روسي عسکر راغلي ول، هري خواته جگړې او منډې وې. د کندهار اکثر خلک به د ليري پرتو غرونو او درو له لارې د جنوبي پښتونخوا (چمن) نومي سيمي ته وراوښتل او بيا به نورو سيمو ته کډوال کېدل. په دې غرونو او درو کي يوه هم د (واندوز) سيمه وه. په واندوز کي د لاري يوې او بلي غاړي ته څو دوکانونه اباد سوي ول، لکه د موټرو مستري خانه، د پنچرۍ نيولو دوکان، د تېلو خرڅولو دوکان، د خوراکي توکو دوکان او دوه درې رستورانونه جوړ سوي ول. دا بازارگی هغو خلکو جوړ کړی و چي د واندوز په شاوخوا کليو کي اوسېدل. خپله په واندزو کي هم يو څو کورونه اباد ول چي له دوکانونو سره مښتي ول.
هغه مسافر چي واندوز ته به راورسېدل او فکر به يې کاوه چي چمن ته نه سي رسېدای يا به له چمن څخه کندهار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان ول او ډېره لار به ورته پاته وه، نو دلته به يې دمه کوله.
په همدې لړ کې موږ هم د جګړې له وېرې له کندهار څخه
مخ پر چمن روان و چې غرمه مهال واندوز ته ورسېدو.
د واندزو په رستورانونو يا د دوی په اصطلاح هوټلونو کې د
ښځو لپاره ځانګړی ځای نه و، د رستورانټ په پای کې يې
پرده اچولې او د پردې تر شا به ښځو ډوډۍ خوله. اکثرو
خلکو به ويل چې د دې هوټلونو ډوډۍ سړی ناجوړه کوي، له
همدې وېرې ما هم ډوډۍ و نه خوړله، نارينه کښته سول، خو
زه او ورور مې په موټر کې پاته سولو.
ماپښين مهال يوه ډله ماشومان زموږ د موټر څنګ ته په
منډه تېر سول. يوه هلک ويل هلئ ناوې يې مړه کړه. له دې
سره سم ما هم ځان په خپل تور پړوني کې ونغښت او هغه
کور ته په منډه ورغلم. کله چې کور ته ورننوتم، نو ګورم چې
يوه لوی او هدور ځوان ناوي ته يو لوی سوټی نيولی او پر دا
نری ملايې وهي.
ما ژر له سر څخه پوړنی ايسته کړ او په سر توره ککرۍ مې
ورته وويل: زويه د خدای و روی ته وګوره ولي يې وهې؟ څه
ګناه يې کړې ده؟ دا زما سپين سر ته وګوره، پوړنی درته
غوړم، عذر درته کوم دا بېچاره ګۍ نوره مه وهه.
هلک چې ما ته وکتل، نو تر خوله يې ناړي باد سوې او په ډډ
اواز يې وويل: دا مرداره بيا د چا ده؟ له دې سره سک يې
سوټی ايسته واچاوه او له کوره ووت.
د ناوي کورنی نوم (توتکۍ) او خسرګنی سپوږمۍ بلله.
سپوږمۍ پرون راواده سوې او نن يې دا حال و. د سپوږمۍ
دواړه لاسونه په وهلو کې مات سوي او پر تندي يې د وينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نرۍ لیکه د سرو شونډو خوا ته راغځېدلې وه. په ډېر تکلیف یې خبرې کولې، ویل مېړه مې دلته په واندوز کې هوټل لري چې وچه ډوډۍ یې موږ په کور کې ورپخوو. ډوډۍ پخوا زما خواښې پخوله، خو نن سهار مې خواښې راته وویل چې بس دی، ناویتوب همدومره وي، سر له نن څخه به ته ډوډۍ پخوې.**

**خواښې مې له یوه کاشین ( تالۍ) اوړو څخه (۵۰) ډوډۍ پخولې، خو ما ته یې نه وه ویلي چې کوچنۍ ځوالې جوړې کړه، زه نه ومه خبره، ځوالې مې لږ غټې جوړې کړې او له هغو اوړو څخه (۴۵) ډوډۍ پخې سوې، بس همدا مې گناه وه.**

**تر دې خبرو وروسته مې ناوې همدلته پر ښوروله او د خواښې خونې ته یې ورغلم. ما ویل خواښې یې هم یوه ښځه او مور ده، څه مورنۍ عاطفه به ولري او بل نو مشره ښځه ده، لږ زړه سوی به ولري او خپل زوی به پوه کړي.**

**کله چې هغې ته ورغلم، نو هغه تر زوی ډېره په قهر وه او له ځان سره یې په قهر خبرې کولې او په لوړ اواز یې ناوې ته داسې ویل: د سپي لورې چې مور دې ډوډۍ نه وه درښوولې، نو ولې یې مینده ته ورکولې؟ د غاړې تاویز کړې به یې وای او په غاړه به یې ځړولې وای. خامخا دې مور هم دغسې بې کاره او بې کماله ده. که دا بې کماله نه وای، نو تا ته به یې ډوډۍ درښوولې وای.**

**ما لا په خبرو خوله نه وه پورې کړې چې په کور کې بیا د هلک وحشي غړومبی او د ناوې نرۍ زگېروی پورته سو. کله چې له خونې راووتم، نو گورم چې هلک ناوې تر مات لاس نیولې او د کوڅې خوا ته یې کشوي، ویل پر ما طلاقه یې ځه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له کوره مې وزه !**

**د ناوې په پښو کې سپک نه وپاته چې ورسره ولاړه سي، په کشولو کشولو یې تر یوه ځایه بوتله. هلک داسې فکر کاوه چې ناوې نه غواړي له کوره ووزي، لکه لېونی سپی تر خوله یې ځګونه باد سول، د کور په کونج کې پرتو لرګیو ته ورغی، یو لوی سوټی یې راواخیست او د ناوې پر خوا یې ورمنډه کړه، تر څو چې زه ور رسېدم درب سو او لرګی د ناوې پر سر ولګېد، له دې سره سم ناوې پر ځمکه ولوېده. ځوان رډ رډ ورته وکتل او بیا یې لکه مست اوښ بړ بړ پیل کړ او له کوره په منډه ووت.**

**د ناوې په زرغونه شال کې یوه لپه وینې ډنډ ودرېدې، سورکړی لاس یې پر تندي ایښی او سترګې یې روښې پاته سوې، خو خواښې یې بیا هم د پخوا په شان غوربدله او ښکنځل یې ورته کول، ویل دا مرداره ټګي کوي، هیڅ بلا نه ده وهلې. زه چې په ځوانۍ کې مېړه په کولنګ پر سر ووهلم څه راوسوه، دا دی تر اوسه پوري روغه او ژوندۍ یم. د نن زمانې ښځې دومره نازولې دي چې مېړه یې یوه چپلاخه ( څپېړه) نه وي وهلې چیغې یې اسمان ته پورته سي او یا ځان پر بې سدۍ واچوي. له دې سره سم یې په قهر ناوې تر کوځۍ ونیوله، ویل د سپي لوري پورته سه پزه دي راپرې کړه. خلک به وایي چې څه په مرمۍ یې وویشته چې د کور په غولي کې خلاصه پرته ده. کله چې یې ناوې سره واړوله ، نو نابېره یې د خواښې سترګې رډې راوختلې او ځای پر ځای ودرېده، ناوې څو شېبې مخکې لا مړه سوې وه.**

**له ځان سره مې وویل: مور، خو پخوا داسې نه و. لکه چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنگ زموږ معنوي ارزښتونه هم وخوړل. پخوا خو به پښتنو د مېلمه په مخ کي خپل ماشوم ته په تريو تندي خبره هم نه کوله. که د دوو قبيلو تر منځ به جګړه وه او يوې ښځې به خپل پوړنی ورته هوار کړ، نو دواړو خواوو به يې په درناوي کي لومړی اوربند او بيا به يې سوله کوله، خو نن يوه پښتانه ځوان زما په مخ کي خپله د يوې شپې ناوې ووژله. عجيبه يې لا دا چي يوې ښځې امر وکړ چي يوه بله ښځه دي ووژل سي.

**پای**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**